

# سته له غمه

شعري ټولګه

STA LA GHAMA

ډاکټر ایمل ارمان

۱۴۰۰ لېږدیز لمریز کال | ژمی

## ډالۍ

خپلو ګرانو هېوادوالو ته چې تل يې د ګران هېواد ناخوالو او ستونزو له غمه اوښکې تويې کړې دي او د يو آرام، سوله ايېز او هوسا ژوند له خونده او نعمته بې برخې پاتې شوي دي.

ستاسې ارمان

۱۴۰۰ لېرديز لمريز | ژمی
کابل افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب ځانګړني:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ستا له غمه ( لومړۍ شعري ټولګه) |
| شاعر: | ډاکټر ایمل ارمان |
| اوډنه او سمونه: | سید فریدون میاخېل |
| ډيزاین: | عارف بېکران |
| چاپ کال: | ۱٤۰۰ لېردیز لمریز/۲۰۲۲ زېردیز |
| چاپ شمېر: | ۲۰۰۰ ټوکه |



| | |
|---|---|
| برېښناليک: | eamalarman@hotmail.com |
| د اړیکو شمېره: | ۰۷۹۹۸۵۱٦۳٦ |


د چاپ ټول حقونه شاعر سره خوندي دي.

# شعرونه


| سرلیک | پاڼه |
|---|---|
| د شعر خوږې خبرې | الف |
| شعر دلپذیرترین بیان آدمی | ز |
| د دېکلوماتور په حېث | ی |
| سرلیکنه | ک |
| اسلامي نظام | ۱ |
| رڼا | ۲ |
| فکرونه | ۳ |
| ناقرار قلم | ٤ |
| د تکبیرونو ښار | ۵ |
| بختوره روژه | ٦ |
| خاونده بیا که راشي | ۷ |
| افسوس | ۹ |
| څه چل شوی | ۱۰ |
| سترګې | ۱۱ |
| لېونی عشق | ۱۲ |
| پتنګ | ۱۳ |
| نن | ۱۳ |
| وصال | ۱۳ |
| وعده | ۱٤ |
| یقین | ۱٤ |
| غم | ۱٤ |
| عشق | ۱۵ |
| غزل | ۱٦ |
| بی غمه ناصح | ۱۷ |
| پوښتنه | ۱۸ |
| ښکلي | ۱۹ |
| د زړه تسل | ۲۰ |
| غزل | ۲۱ |
| قافله | ۲۲ |
| د اشنا سفر | ۲۳ |
| ښاغلی | ۲٤ |
| غزل | ۲۵ |
| ټاپټانېک | ۲٦ |
| سپینه سپینه | ۲۷ |
| مزل | ۲۸ |
| ښکلی اشنا | ۲۹ |
| عدل او انصاف | ۳۰ |
| غزل | ۳۱ |
| وطن | ۳۲ |
| مینه | ۳۳ |
| د ښکلا ښار | ۳٤ |
| غزل | ۳۵ |
| غزل | ۳٦ |
| هېواد | ۳۷ |
| خاوره | ۳۸ |
| غزل | ۳۹ |
| وطن | ٤۰ |
| غزل | ٤۱ |
| غزل | ٤۲ |
| غزل | ٤۳ |
| غزل | ٤٤ |
| خاونده څنګه هېر کړم؟ | ٤۵ |
| ځوان | ٤۷ |
| جادو | ٤۷ |
| تیندکونه | ٤۸ |
| د ګلونو هار | ٤۹ |
| غزل | ۵۰ |
| ستومانه | ۵۱ |
| ورزش | ۵۲ |
| منفکان | ۵۳ |
| معین صیب | ۵٤ |
| ګذران | ۵۵ |
| احساس | ۵٦ |
| سکون | ۵٦ |
| نصیبونه | ۵٦ |
| غمونه | ۵۷ |
| حالات | ۵۸ |
| ژوند | ۵۹ |
| جانان | ۵۹ |
| درمان | ۵۹ |
| زندګي | ٦۰ |
| پرهر | ٦۰ |
| ښکلي | ٦۰ |
| مشوره | ٦۱ |
| خاونده هېر به نشي | ٦۳ |
| افغانستان | ٦۵ |
| ملګری | ٦٦ |
| اخېري خبره | ٦۷ |

# د شعر خوږې خبرې

دا چې مونږ او تاسې ټولنه کې ژوند کوو، نو اړتیا ده چې باید د فکرونو ترجماني مو وشي. کومو ټولنو چې د پرمختګ په لور قدمونه ګړندي کړي، نو ادب یې هم وده کړې ده.

ادبیات په خپله نه دي رامنځته شوي، څکه لومړی وګړي او بیا ټولنه رامنځته شوې ده. کله چې د ټولنې انځورګري د یوې انځورګرې آلې له لارې ترسره شوه، نو د ادبیاتو په نوم یاد شول، ټولنیزې ناخوالې او نېکمرغۍ یې خپله غېږه کې راونغښتې، څکه ادبیات د ژوند سرچینه وګڼل شوه، شاعر او لیکوال ټولنیزو ناخوالو ته څېر پاتې وو، د ډېوې په څېر یې ځان وسېزه، خو د ټولنې درد یې څرګند او درملنه یې ورته د شعر او قلم په ژبه پېل کړه، چې خورا ښکلې پاېله یې درلوده.

د شعر او شاعرانو په اړه خلک بېلابېل فکرونه لري، خو پرمختللو ټولنو کې شاعر ته د ولس ژبه او ژباړونکی وایي، د نړۍ هر هېواد او هر پېر کې داسې شاعران پاتې شوي دي چې شعرونه یې د کانې کرښې بلل شوي او په زرینو ټکو لیکل شوي دي، همدا لامل دی چې د نړۍ پوهان یې هم په اړه چپ پاتې نه دي او په وړاندې یې خپل فکر او دریځ څرګند کړی دی.

سوال دا دی، چې شعر څه ته وایي؟

شعر عربي کلیمه ده، د عبراني ژبې له شیر اخېستل شوې چې د سندرې په مانا ده، خو ادب پوهنه کې نازک خیالۍ ته شعر وایي او همدارنګه هر هغه کلام چې هنري ارزښت ولري، شعر دی.

د نړۍ ډېری پوهانو د شعر په اړه خپل نظرونه څرګند کړي دي، راځو لومړی د اسلام د ستر لارښود حضرت محمد (ﷺ) سپېڅلې وینا ته مخ ور اړوو چې د شعر په اړه یې کړې ده:

**(خپلو بچیانو ته شعر ور زده کړئ، شعر یې ذهن پراخوي او زوروتیا وربښي.)**

ارسطو هم د شعر په اړه وایي: «شعر هغه وینا ده چې زړه کې هیجان پیدا کوي.» ډېری نور پوهان د شعر په اړه بېلابېل نظرونه څرګندوي، څوک وایي هغه موزون کلام دی، چې د انسان په احساساتو او عواطفو کې خوځښت راولي...، ځینې نور بیا وایي هر کلام چې دغه کار کولی شي وزن او قافیه ولري...، خو د پښتو ژبې د نثر او شعر ستر ادیب او د هېواد د ختیځې سیمې ځلانده ستوری خدای بخښلی ګل پاچا الفت بیا وایي نه! هر څه چې په زړه تاثیر وکړي شعر دی.

شعر او شاعرۍ کې وزن او قافیې ته ډېره پاملرنه کېږي او باید چې وشي، وزن شعر کې د څپو د شمېر په مانا دی، خو په رښتیا هم که شعر د سمندر سره تشبیه کړو، نو تېروتنه به مو نه وي کړې، څکه شعر لکه سمندر دی او د سمندر د څپو شمېرنه ساده خبره نه ده، پوهه او وړتیا غواړي، په همدې بنسټ که شعر کې د څپو شمېر په ښه توګه ترسره شوی وي، نو له هرې څپې



به یې لکه د سمندر د څپو د شور په څېر ځانګړی خوند واخلو.

د شعر ژبه د نثر له ژبې بېخي جلا ده او له بلې هرې ژبې خوږه او زړه راښکونکې ده، همدا لامل دی چې شعر زړه او مغز کې زر ځای نیسي، په اسانۍ سره یادېږي او تر ډېره په یاد پاتې کېږي، خو د دې سره سره د شعر ویل ځانته ځانګړې پوهه، ذوق او علاقه غواړي. شاعر چې د ټولنې روحاني درملنه کوي خپل خیال شعر کې په خپل فکر او ژبه نورو وګړو ته وړاندې کوي، چې هر څوک ترې د خپلې ادبي پوهې او فکر پر بنسټ مانا اخلي او څوک چې په کوم لوري ترې مانا اخلي دا د هغه ادبي فکري وړتیا او ذوق پورې اړه لري، مګر کېدی شي چې شاعر شعر په یوه موخه لیکلی وي، خو لوستونکی یې د ځان لپاره ځانګړې مانا کړي، نو څکه خو د تورو په نوم یو ادیب وایي: د سترو شاعرانو په شعرونو ستر شاعران پوهېږي، همدارنګه د شلي په نوم یو ادیب وایي: شاعران د نړۍ ناپېژندل شوي قانون جوړوونکي دي...، د دې ترڅنګ امام باستاني بیا وایي: شاعران له بلې هرې ډلې په پرتله ډېر د خلکو د عقل او عواطفو واګې په لاس لري...، خو ابوالمعاني بېدل شعر داسې راپېژني: ښه شعر مانا نلري. له دې ټولو څرګندونو جوتېږي، رښتیا ده چې وایي: شعر کې د کلیمې مانا له هغه څه چې قاموس کې یې راوړې پراخه ده او د بیان قدرت یې زیات دی.

د شعر ټاکنه او ویل ځانته وړتیا غواړي چې بیا دا کار متشاعر په ښه ډول ترسره کوي، څکه چې نوموړی د نورو عامو وګړو او کله کله د ځینو شاعرانو په پرتله د شعر ویلو لپاره تر نورو ښه ټاکنه کوي، شعر په ښکلي انداز او ښکلې ژبه وایي، د شعر ټول بندونه، ردیفونه، قافیې او نورې ادبي لوړې ژورې په ښه توګه پام کې نیسي، تر دې چې متشاعر له شاعره د شعر ویلو کې هم ښه وړتیا څرګندوي، څکه دا د هغه خپله وړتیا او پوهه ده چې څنګه په ښه ډول او د ټولو لوړو ژورو پام کې نیولو سره یو شعر ووایي، نو په همدې بنسټ د هر شعر ویلو لپاره باید ځانګړې ژبه او لهجه وکاروو، ترڅو ویونکی او اورېدونکي ترې څنګه چې شعر لیکل شوی خوند واخلي، څکه د شعر ویل او اورېدل ځانته مینه غواړي لکه چارلي چاپلېن چې وایي:

کله چې ګل درباندې ګران وي را شوکوې یې، خو که پر ګل مین یې، هره ورځ به اوبه ورکوې، همدا د ګرانښت او مینې ترمنځ توپیر هم دی، نو په کار ده چې شعر هم په ډېره مینه، ناز او ادا وویل شي، نه چې مات، ګوډ او پیکه یې وواېو.

**د ښاغلي ډاکټر ایمل ارمان په شعر لیکنه څو کرښې:**

د ارمان د شعر پر هرې خوا غږېدل او خبرې کول ډېر کار غواړي او زما غوندې د کم عمره او کم ازمېښتي کار به نه وي په دې باندې کره کتنې لپاره سترو سترو لیکوالانو او کره کتونکو ته اړتیا لیدل کېږي، چې د ښاغلي ارمان د شاعرۍ د اړخونو د څرنګوالي په اړه لیکنې وکړي.

ښاغلی ارمان په روانه او ساده ژبه د نثر لیکلو ډېره لوړه وړتیا او هر اړخیز هنري مهارت لري، د دې ترڅنګ د شاعرۍ منځپانګه یې د کلیوالي ژبې او لهجې ډکه ده، د اسلامي عقیدې ډېری معیارونه په کې پام کې نیول شوي دي، ډېری لوری یې حماسي او هېواد سره د مینې شاعري

ده، د سترګو او رخسار ستاینه یې شعرونو کې له ورایه څرګندېږي، د وخت ناخوالې او د ناخوالو څرګندونې یې په ډېر ساده او ښکلي انداز د شعر په ژبه تر خلکو رسولې دي، د دې سره سره ښاغلي ارمان تنقیدي شاعري هم تر ډېره کړې ده، چې د شعر په ژبه یې نیوکه د روان نثر په پرتله وګړي ډېر متاثره کوي او په ښه ډول د ټولنې او د ځینو فاسدو وګړو تېروتنې د شعر په ژبه وړاندې کوي.

شعر الهام دی، الهام له اسمانونو په زړونو راځي او د زړونو واکدار څښتن تعالی دی، شعر له زړه او د زړه په وینو لیکل کېږي چې بیا دا کار د هر چا د وس نه دی او نه هم شعر په زور لیکل کېږي، ځکه د شعر پنځېدل ځانته ځای او وخت ته اړتیا لري.

ښاغلی ارمان د عصري زده کړو سره سره دیني لوړې زده کړې هم لري، دین او دیني اصولو ته یې زړه کې ځای ورکړی، په همدې بنسټ یې شعر کې له ورایه اسلامي مینه او په خپل خدای کلکه عقیده ښکاري لکه:

نړۍ تــوله پرتـه وه په تیارو د وحشتــونو کـــې
حضور (ﷺ) کړله روښانه، چې یې راوړو الهي نظام
***
کلک باور دې په رب ساته
ستا هر خېر ته یې رضا ده

هغه په خپله شاعرۍ کې اسلامي فرضونو او رسمونو ته ځانګړې مینه، ارزښت او ځای ورکړی دی لکه:

الله سره په میـــنه کې بهتــره ده روژه
بې شانه یې حکمتونه، معتبره ده روژه

که د ښاغلي ارمان شاعرۍ ته وګورو نوموړي د ټولنې د سمون په موخه تنقیدي شعرونه هم لیکلي او آن تر دې بریده چې تنقید او نیوکې یې ډېرې روښانه او بې لارو ته نېغ په نېغه اشاره ده، چې په خپل وخت کې یې د خپلې ټولنې د وګړو د فکرونو ډېره ښه او ښکلې ترجماني کړېده لکه:

څومره ښکلی دې رفــتار دی ای معین صیب
له نخرو دې ډک کـــردار دی ای معین صیب
له خپل ځانه دې دوستان، خپلوان راټول کړل
له بزنس مو ډک بازار دی ای معـــــین صیب
***
چې اخلاق یې وو خراب، شولو منفک
تور مخ پټــي په نقـــاب، شولو منفک
هر مفســـېد به تر ارګ پورې روان ؤ
مونږه ورکـــړلو ځواب، شولو منـــفک



پورته د ښاغلي ارمان د تنقیدي غزل یوه برخه ده، چې هغه مهال د مالیې وزارت واکمن مرستیال د ښاغلي ارمان رسمي چارو کې غېر مسؤلانه لاسوهنه کوله، د ځان او ملګرو د ګټو په موخه یې نوموړي ته ډول ډول ستونزې او خنډونه رامنځته کول، ترڅو نوموړی له مخې لرې او د خپلو شومو موخو لپاره لاره هواره کړي، دا په داسې حال کې چې د یاد مرستیال لاسونه دومره اوږده وو چې د ارګ تر ماڼۍ رسېدل، خو بیا هم د ښاغلي ارمان صداقت او ایمانداری یاد مرستیال د شومو موخو رسېدو ته پرېنښود. د دې ترڅنګ ښاغلي ارمان د ټولنې سمون په موخه د شعر ژبه په ډېر مهارت کارولې ده لکه دلته:

دا نوم څنګه خپور شوی، شول نومونه ټاپټانېک
رواجـونه ټاپټانـــېک شـو، بازارونه ټاپټانـــېک
زمونږ د ساده کلي سپینـکی یار مې چې نن ګورم
فوجي کټېنګ یې کړی، زلفــــــې ولونه ټاپټانېک

همدارنګه بل ځای کې د اصلاحي نیوکې سره ښاغلی ارمان ګیله من هم دی او د زړه له کومې ګیله کوي:

له درده، کړاوونو ناخـــــبره پېـــــغله ګوره
د کونډو یتیمانو په خپګان به څه پروا کړي
***
سختو کې پردي شي، خپل نږدې خلک
دې منافقت ته یې حېــــــــرانه شوم

پورته ټول هغه څه دي چې د ټولنې وګړو د وخت د ظالمو او جابرو واکدارانو له امله په زړونو کې کینه درلوده، هر چا غوښتل او لا غواړي چې د یادو ظلمونو او ناخوالو په وړاندې خپل غږ پورته کړي او داسې غږ چې تر هر چا ورسي، همدا وو چې ښاغلي ارمان د ټولنې یاد غږ د شعر په ژبه په ښکلي انداز اوچت کړو او د خلکو سره سره تر یادو ظالمانو هم ورسېدو.

د ښاغلي ارمان شاعري د حماسي شعرونو څخه پوره غني ده او په هېواد مئینو او د حماسي شعرونو مینه والو تنده پرې ښه پوره خړوبېږي او شاعرۍ کې یې د هېواد سره د مینې د شاعرۍ تشه په پوره توګه ډکه کړې ده، راځئ چې دې برخې ته یې هم یو پام وکړو:

کلونه کېـــږي ته د دې خاورې ماتم ته ګوره
سر دې کړه پورته! لږ زما د زړګي غم ته ګوره
***
د ښکلا ښار مو دا دی، بیا ځلې لمبه لمبه شو
کابل جوړ نشو، مونږ خو تل ورته دعـــــا وکړله

هغه د ټولنې او هېواد د يو موټي کېدو برخه کې پر خپلو هېوادوالو د شعر په ژبه غږ کړی، ترڅو يو بل سره مينه وکړي، لاس وکړي او د هېواد پرمختګ کې په ګډه خولې تويې کړي او په همدې موخه يې د هېوادوالو د ويښولو کوښښ کړی:

افغانه وروره خپل افغان پېژنه
زخمي زخمي افغانستان پېژنه

ښاغلي ارمان د هېوادوالو مينه او قرباني هم له ياده نه ده ويستلې او شعر کې يې د افغانانو د هغو قربانېو يادونه کړې، چې هېواد ته پرې ملي وياړونه وربخښل شوي دي:

آزادي مو ده ګټـــــلې، مونږ بچي يو د ملالې
انګرېزان مو دي شړلي، تاريخونه هسې نه دي

شاعري د مينې او عاطفې يو روښان انځور دی، د مينې ډګر لپاره هم نوموړي ښه او ښکلې شعرونه پنځولي دي لکه:

نور عشق هم لېونی شو خمارونه لوبوي
د سرو ويــــــنو ډنډو کې پرهرونه لوبوي
مينه يو جذبه ده چې په زړه کې شي داخله
د زړه په سر نڅېږي اندامـــــــــونه لوبوي
***
ما به کړه مينه، خو تا هر وختې جفا کوله
تا به خنـــــــدا کړه او ما نورو ته ژړا کوله
زه وم په تمه، خو تا ژوند په خوشالېو تېر کړو
هر چا ښېــــــــرا درته، ما تل درته دعا کوله

که د ښاغلي ارمان شعرونه ولولو پوهېږو چې شعر کې يې ډېری د کړې مينې ثبوتونه شتون لري او ځرګندېږي چې د سترګو مئين دی، خپلو غزلونو کې يې سترګې ډېرې يادې کړې او هغه هم ډېر د زړه په مينه لکه:

په زړه داغـــلی کلــــی او کور پرېږدي
څوک چې ستي شي په انګار د سترګو

د ښاغلي ارمان د يو غزل له پورته بيت څخه مالومېږي، چې سترګې څومره زوروې او څومره وژونکې دي او سترګو سوځېدو تر دې رسولی، چې سترګې يې انګار سره تشبيه کړې دي.

که د شعر په جوړښت او ښکلا تر هر بريده ليکل وکړو، پای نه مومي او بيا په هغه شاعرۍ چې د يو چا د خوښې وي، ځکه د مينې او خوښې په څېزونو خبرې کول او ليکل پای نه لري، ځکه خو مئينان د نيمې شپې سندرې وايي.

د ښاغلي ارمان شاعرۍ ته که وګورو هر اړخيزه ده، په شاعرۍ کې يې هر لوری رانغښتی، د



شاعرۍ منځپانګه يې تر ډېره غني ده او د شعر د ټولو مينوالو مينه پرې ماتېږي.

د دې ترڅنګ د نوموړي شاعري له نوښت ډکه ده، له کوم بل شاعر څخه که يې الهام اخېستی هم وي، خو په شعر ليکنه کې يې پردی خط او قافيه نه ترسترګو کېږي، ټوله يې په نوي انداز، نويو ټکو او د نوښت په پام کې نيولو سره کړې ده، اړينه هم دا ده چې نوموړي ټوله شاعري له زړه ليکلې، چې همدې کار يې شعر ته لا ډېر خوند وربخښلی دی.

غواړم خپلو خبرو ته د پای ټکی کېږدم، پای کې ګران ورور ښاغلي ډاکټر ايمل ارمان، د هغه درنې کورنۍ او د شعر مينوالو ته د همدې (ستا له غمه) شعري ټولګې د چاپېدو له امله د زړه له کومې مبارکي ورکړم، دا اثر د شعر، ادب او پښتو ژبې برخه کې يو ستر خدمت دی، خدای تعالی دې ورته په عمر کې برکت واچوي، راتلونکې کې ورته په دې او د ژوندانه نورو چارو کې لا ډېرې او سترې برياوې غواړم.

زما له خوا ښاغلي ارمان او تاسې ټولو درنو لوستونکو ته دې دا لنډۍ ډالۍ وي.

ستا د ښاېـــــست ګلـــونه ډېــــر دي
څولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولوومه

ستاسې د مينې په هيله
سيد فريدون مياخېل
۱۴۰۰ لمريز - ژمی | کابل افغانستان

# شعر دلپذیرترین بیان آدمی

وَ یبقَی وَجْهُ رَبَّک ذوالجلالِ والاکرامِ

درین سیه روزگارانی که وطن را باز هم یکی از دشوارترین آزمایشهای زمان در خود پیچانیده و از گوشه و بیشه و دیوار شکسته آن، سوز و نوای هزاران رنج و اندوه بلند است و درین زمانه که قلب افسرده هر افغان را غصه وطن، درماندگی و نا امیدی از برای نجات آن فراگرفته، چه نیک‌بختی و سعادتیست که فرزندی از این مرز و بوم چون «آرمان» با شعرهای زیبا گونه و روح انگیزش برخیزد و خاطر افسرده ما را شاد و قلب های حزین مان را قوت بخشد. دانشمندان معتقدند از آن زمانی که بشر خودش را شناخت و کلمات و زبان به وجود آمد، شعر در زندگی انسان جایگاه ویژه‌ای داشته، به گونه ای که در همه اعصار بخشی از زندگی او بوده است و در تمامی لحظات ناخودآگاه، آدمی را این بخش از ادبیات بی آنکه بدانیم پر کرده است.

به عباره دیگر شعر انسان‌ها را در خصوصی ترین و شخصی ترین لحظات زندگی‌شان، در زمان غم و شادی مخاطب قرار می‌دهد زیرا فقط همین فرم ادبی است که می‌تواند تا این حد و با چند کلمه به انسان نزدیک باشد و وی را متحول سازد. بناء می توان گفت که شعر از جهت تأثیرگذاری در جامعه و در بین مردم، نقش بسیار مهمی ایفاء می کند تا جایی که پیامبر اکرم (ص) فرمود: «اِنَّ مِنَ الشِّعْرِ لَحِکْمَةً، وَ اِنَّ مِنَ الْبَیانِ لَسِحْراَ» یعنی برخی از شعر ها حکمت است و مضمون بلند و حکیمانه دارد و بعضی از بیان ها در اثرگذاری در نفوس دیگران بسان سحر است. این هنر دیرپا و کهن از عهده هر فرد و شخصی برآورده نیست بلکه موهبتی است الهی که افراد معدودی از آن برخوردار می‌باشند. اقبال لاهوری در زمینه اینگونه می سراید:

شعر را گر حکمت و روشنگری است
شاعـری هـم وارث پیغمـبری است

والاس استیونس شاعر آمریکایی قرن بیستم سال‌ها پیش گفته بود، وظیفه شعر این است که به انسان‌ها کمک کند زندگی کنند و معتقد بود که تخیل تنها قدرتی است که انسان با آن بر طبیعت برتری دارد و شعر عالی‌ترین نوع بروز این قدرت است. به باور پروفیسور ساموئل هازو شعر از جایی آغاز می‌شود که منطق ایست می‌کند. در واقع از جایی که منطق دیگر کاری از پیش نمی‌برد. از اینجا به بعد شعر از منطق خود پیروی می‌کند که منطق عقل نیست و سرچشمهٔ آن نه مفاهیم و نه نتیجه‌گیری‌ها، بلکه انگاره‌هاست. دیده می شود که هرچه به لحاظ سیر تاریخی جلوتر می‌آییم، درمی‌یابیم که شعر به حضور مسحور کننده‌اش در جهان ادامه می‌دهد و حتی برخی فیلسوفان نامدار چون افلاطون، سقراط، فردریش نیچه، مارتین هایدگر و غیره را به سلک



مریدی خویش درمی‌آورد و هواخواهانی نستوه می‌یابد.

افغانستان سرزمینی است با جغرافیای وسیع که میزبان تمدن های متعددی در طول تاریخ بوده است. بسیاری از شهرهای باستانی و بزرگ در افغانستان مانند هرات، بلخ، بامیان، غزنه، قندهار، غور، تخار، کابل و... از روزگارانی بدینسو مهد فرهنگ و هنر بودند و بسیاری از مفاخر، بزرگان، اندیشمندان مسلمان و عارفان در این جغرافیا بالیده و از همین شهرها برخاسته‌اند. متاسفانه جنگ‌های داخلی بسیار، پریشانی‌ها، نابسامانی‌های اجتماعی، فقر اقتصادی و هزاران مصائب دیگر که مردم افغانستان طی قرن ها با آن دست و پنجه نرم می‌کردند و میکنند، مجال رشد و بالندگی ادبی را از شاعران و نویسندگان این کشور گرفته است. ولی با آنهم هنوز که هنوز است شعر به حضور مسحور کننده‌اش در این مرز و بوم ادامه می‌دهد و می توان شاهد حضور شاعران توانایی درهر گوشه و کنار آن بود.

محترم داکتر ایمل آرمان از جمله شاعران و نویسندگان چیره دست این کشور بوده که با اشعار و سروده های زیبایش به زبان رعنای پشتو غوغایی را به پا نموده است. اشعار وی به زبان بسیار ساده اما پر محتوا و در ابعاد متنوع اسلامی، اجتماعی، میهنی، فرهنگی و تصوف سروده شده است. وی در بیان الفاظ بسیار بی باک بوده و با اشعارش نابسامانی های موجود را به شکل صریح نقد نموده است. کلمات ایشان همیشه از دل اتفاقات، دردها، رنج‌ها و احساسات آدمی جوشیده و نه فقط شعرهای سیاسی و اجتماعی، بلکه آنهایی را که از عشق و دوستی می‌گوید هم به اندازه کافی تأثیرگذار است. توجه خاص آرمان به موضوعات اسلامی و دینی نشان دهنده اعتقاد راسخ وی به دین مبین اسلام میباشد، که اهمیت این موضوع را می توان در این اشعار به صراحت مشاهده نمود:

ټول عالــم روان ؤ له یو مخــې جهنم لــور تــه
رب پرې رحم وکړ چې نازل شو قرآنـــــي نظام
***
د شرق او غرب واړه ډاکتران پرې مـتفق دي
بې شمېره علاجونو کــــــــې نام وره ده روژه

از میان انواع نقش‌های ادبی و ارزش‌گذاری‌هایی که در ادبیات مطرح است چیزی است که فقط به ساختار شعر و خود متن تکیه می‌کند، یعنی اینکه این شعر به کجا و به چه تعلقات اجتماعی و به خصوص انسانی وابسته است که به این دلیل در اغلب این اشعار نمی‌توان حدس زد برای کیست. شاعر باید نگاه خود را به عنوان یک انسان به زندگی مطرح کند؛ آن زمان است که می‌توانیم به نقش اجتماعی شعر برسیم. توجه آرمان در این زمینه قابل تعمق است.

دا نوم څنګه خپور شوی، شول نومونه ټاپېټانېک
رواجــونه ټاپېټانېک شـــــــو، بازارونه ټاپېټانېک
ارمانه! یوو بې علمه چې هر څیز د بله غواړو
د کفر تقلید زور شو، شـــول فلمونه ټاپېټانېک

شعر تزریق احساسات، عواطف و اندیشه‌ها با تکیه بر زبان و تغییراتی در زبان است. اتفاق‌هایی که در زبان می‌افتد، در واقع تاثیر رفتارهای ضمیر ناخودآگاه ما بر زبان است. آرمان به عنوان یک میهن پرست واقعی درد ملت خویش را فریاد می زند و در شعر وی عشق به وطن و میهن را به وضوح می‌بینیم.

کلونه کـــېږي ته د دې خاورې ماتم ته ګوره
سر دې کړه پورته! لږ زما د زړګي غم ته ګوره
***
افغانه وروره خپل افغان پېـژنه
زخمي زخمي افغانستان پېـژنه
***
دا وطـن د ننګيــــــالو دی، ننګيالي يې زېږولـــي
هر يو تن باندې چې ګورې، پرهرونه هسې نه دي
آزادي مو ده ګټلـــې، مونږ بچي يـــو د ملالــې
انګرېزان مو دي شړلي، تاريخونه هسې نه دي

سخن از محبت و عشق به عنوان پرکاربردترین الفاظ در دست شاعران و عارفان، از جمله مواردی است که احتیاج به توضیح نداشته و ندارد؛ آرمان عاشقانه می سراید:

مينه يو جذبه ده چې په زړه کې شي داخله
د زړه په ســــر نخښې اندمــــونه لوبــــوي
***
مينه يو رڼا ده چې د زړه په کور کې راشــي
نفاق په اتفاق کړي سـحرونــــه لــــوبوي

هنر و فرهنگ به عنوان یکی از مؤلفه‌های اصلی تشکیل تمدن‌های بزرگ، نقش مؤثری در انسجام و نمایان ساختن هویت فرهنگی جامعه دارد و شاعران در اعتلای فرهنگ و تمدن نقش مهمی را ایفا می‌کنند. به عبارە دیگر شعر و ادبیات ستون فقرات هنر است و اگر این حوزه تقویت شود، دیگر هنرها نیز در جامعه متجلی می‌شود. اشعار داکتر ایمل آرمان با کمال زیبایی ابعاد متنوع اجتماعی و فرهنگی را در بر گرفته که با مطالعه آن خواننده به وجد می آید.

در پایان موفقیت های بیشتر این شاعر جوان را در بیان حقایق و اسرار و رموز حکمت و عرفان از خداوند منان می خواهم.

با کمال حرمت

پروفیسور محمد نعیم عظیمی | خزان ۱۴۰۰ | هرات افغانستان



# د دېکلوماتور په حيث

دېرى وخت پر ټولنيزو رسنيو د ګڼو پښتنو شاعرانو، د وطنی مينې، اصلاحي، تصوفي او له عاطفې ډک شعرونه دېکلومه کوم، ډېرى ملګري هر وخت د نوې دېکلومې پوښتنه کوي، وايي هم خرما او هم ثواب، ملګري خپله ادبي تنده پرې ماتوي او په ضمن کې زما ادبي تنده هم خړوبوي. که څه هم شاعر نه يم، يو ژورنالېست او دېکلوماتور يم، د شعر په جوړښت ډېر نه پوهېږم، خو بيا هم د شعر شه والی، جذبه او هنر يې راته مالومېږي، دا يوازې ماته نه بلکې هر دېکلوماتور ته مالومېږي. هر انسان د خپل ذهن او فکر سره سمه رويه او زده کړه کوي، د ارمان صاحب غزلونه تر ډېره په وطنی مينه او په ټوله کې انساني عاطفې باندې راڅرخي، د شاعر له پاره په شعر کې تر ټولو مهم د ټولنې حقيقت په خورا هنري شاعرانه ژبه بيانول دي، چې رشتيا هم د ارمان صاحب په غزلونو کې دا هنر سته.

د يو دېکلوماتور په حيث زه وايم، هغه غزل زما له پاره شکلی دی چې په وېلو کې په کې ژبه بنده نه سي، روان غزل وي، دېکلوماتور يې په دېکلومه کولو کې خوند حس کړي او هر ډول ږغ ته خپل ځان سم کړي، نو شه غزل ده.

د ارمان صاحب ډېر غزلونه او ازاد شعرونه ما دېکلومه کړي دي، چې هم ما او هم اورېدونکو خوند ورڅخه اخېستی دی، يو شوخي دې په کې وي، کله چې د ارمان صاحب نوی غزل دېکلومه کړم، زه ارمان صاحب ته د هغه د غزل صفتونه کوم، دی بيا وايي يا، ستا اواز شکلی دی، زما او د ده پرېکړه هر ځل همداسې پاتې سي، خو زه بيا وايم چې رشتيا هم د ارمان صاحب غزلونه شکلي او د شه هنر درلودونکي دي.

تر کومه چې زه خبر يم، د وطن حالاتو ته په کتلو، ارمان صاحب د ډېرو بوختياوو سره سره بيا هم شکلي شعرونه سره يوځای کړل او شعري ټولګه يې چاپ ته وړاندې کړه، ګوتې او قلم مو برکت ناک سه، تاند، سر لوړی او کامیابه اوسې.

درنښت

ژورنالېست او دېکلوماتور محمد الياس الهام
۱۴۰۰ لېږديز لمريز - ژمی | کندهار افغانستان

# سرلیکنه

ژوند د سختېو، خوارېو، کړاوونو ګاللو او زغملو نوم دی. په هر حالت کې د ژوند ناخوالو او بدو حالتونو سره باېد مبارزه او مقابله وشي. ممکن موږ هیڅکله یو پوره او سل سلنه د خپلې خوښې سره سم ژوند ونه لرو، ولې په باور سره کولی شو یو خوشاله ژوند ولرو، په داسې حال کې چې په ژوند کې بې ځایه تمې ونلرو او په خپله برخه قانع واوسو.

ژوند له ګواښونو او پېښو ډک وي، ډېری وخت اړینه وي چې ژوند کې ځینې ګواښونه ومنو او تر ممکن حده یې تاثیرات را کم کړو، انسان باېد هیڅ وخت تسلیم نه شي ولو که له ماتې وروسته هم وي. هغه کسان چې له کورنۍ میراث ورته نه وي پاتې او اړینه پانګه په لاس نلري باېد ډېر زیار او کوښښ وکړي، ترڅو د خپل ژوندانه موخې ترلاسه کړي، هر انسان باېد ژوند کې څرګند لید لوری او موخې ولري او د خپلو موخو ترلاسه کولو لپاره باېد سرچینې په ګوته، برابرې او ورته هڅه او هاند وکړي.

ګران افغانستان کې هر انسان هوسا او سوکاله ژوند نلري، په ځانګړي ډول د هېواد خوار او بې وزله وګړي یې چې د څلورو لسیزو جګړو ترېنه هر څه اخېستي. نن مو هېوادوال په ډېر ناوړه امنیتي او اقتصادي شراېطو کې ژوند کوي، ځینې یې حالاتو او وخت سره سم خپل ژوند تېروي، ځینې د دې سرببره چې ښه پوهېږي چې د نړۍ ټولو هېوادونو د افغانانو پر مخ خپلې دروازې تړلې دي، په درنه سترګه ورته نه ګوري، خو بیا هم غواړي خپل خوږ هېواد پرېږدي او نورو هېوادونو ته کډوال شي، ترڅو د هېواد څخه بهر هوسا او آرام ژوند ولري. متاسفانه، ځینو هېوادوالو او سیاسیونو د هېواد هره هستي او نېستي چور او تالان کړه، اوس له هېواده بهر د شاهانو پشان ژوند کوي، هغوی څخه نو بیا افغانان او افغانستان هېر دی.

د ګران هېواد ناخوالو او بدو حالتونو مې په ژوند ژور تاثیر درلوده او لا یې لري. ډېره هڅه کوم چې خپل ګران هېواد او هېوادوالو ته په هر ډګر کې څنګه چې اړینه ده خدمت وکړم. د خپل هېواد او هېوادوالو خدمت پر ځان فرض ګنم. خپل ځان هر وخت د الله پاک او ملت پر وړاندې مسؤل ګڼم.

زموږ هېواد ځینو فاسدو او بې لارو افغانانو لوټ او تالا کړ، باېد له هر ډول فساده ځان وساتو او د فساد پر وړاندې کلکه مبارزه وکړو، که چا د یوې افغانۍ فساد وکړ، پوه شئ که یې لاس بر شي، نو له میلیونونو افغانېو پورته فساد هم کوي، هر انسان باېد هره ګړۍ تیار وي، ترڅو خپل وجدان او نورو ته حساب ورکړي او ځان د نورو پر وړاندې مسؤل او حساب ورکوونکی وګڼي.

په تېرو دوه لسیزو کې مې په یو شمېر ملي او بېن المللي موسسو کې دندې ترسره کړي او



ګرانو هېوادوالو ته مې لازمې تخنیکي او مالي چوپړتیاوې برابرې کړې دي، د دې لپاره چې د ګران هېواد د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لامل وګرځي.

په تېرو دوه لسیزو کې مې خپلو ملګرو سره وکولی شول چې په هېواد کې د فقر او بېوزلۍ د لمنځه وړلو، د بېکارۍ د کچې ټیټولو، خوراکي خوندیتوب، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره اړینې مالي او تخنیکي مرستې برابرې کړم.

الحمدلله په زرګونو هېوادوالو ته مې د انګلیسي ژبې، کمپیوتر، انټرنېټ او د سوداګریز مدیریت روزنیز پروګرامونه برابر کړي او ځوان نسل مې د نوې تکنالوژۍ او عصري زده کړو سره اشنا کړی، په دې موخه چې ګران هېواد ته د ښه خدمت جوګه شي. د کرنې سکتور د ودې په موخه مې په لسګونو تخنیکي او مالي څېړنې ترسره کړې او د خپلو څېړنیزو راپورونو او سپارښتونو په وړاندې کولو سره مې د مالي تمویل کوونکو هېوادونو او موسسو څخه بزګرانو او ملي پانګوالو لپاره اړینې تخنیکي او مالي مرستې ترلاسه کړي دي، هېوادوالو کې مې د نوښت او کاروبار پېلولو روحیه پیاوړې کړې او زیات روزنیز او کاري فرصتونه مې ورته برابر کړې دي، د ملي او بېن المللي سوداګرۍ ودې ته مې هڅې کړي او بېوزلو کورنېو ته مې تر خپله وسه اړینې عاېداتي سرچینې ورپېژندلې دي. له نېکه مرغه په لسګونو کوچنیانو ته مو په بهر کې د زړه عملیاتونو او درملنې زمینه برابره کړې چې له عملیاتونو او درملنې وروسته د پوره روغتیا لرونکي دي. هر انسان تر خپل وس پړ دی، نو اړینه ده په هر حالت کې باېد خپله دنده او مسؤلیت وپېژنو او د خپل ولس اعظمي خدمت وکړو.

د ستر څښتن تعالی ډېر شکر ادا کوم چې اوس هم د ګران هېواد د کرنیزې پراختیا او پرمختیا په موخه د کرنیزې پرمختیا صندوق د رئیس په صفت دنده ترسره کوم، چې له همدې لارې د هېواد په لسګونو زره بزګرانو، ډېری کرنیزو کوپراتیفونو، کرنیزو سوداګرو او سوداګرېو ته تخنیکي او مالي چوپړتیاوې وړاندې کوم او له همدې لارې د هېواد او هېوادوالو خدمت کوم.

څنګه چې پوهېږئ پښتو د پښتنو د توکم زړه او لرغونې ژبه ده. پښتانه د پخوا زمانې راهیسې د مېلمه پالنې، ننګ، غېرت، وفادارۍ او د داسې نورو ځانګړتیاوو پر بنسټ ټوله نړۍ کې پېژندل شوي دي. زموږ او ستاسې پلرونو او نیکونو د پښتو ژبې ځانګړې ساتنه کړې او څوک یې نه دي پرېښي، ترڅو دې ژبې ته په سپکه سترګه وګوري، مونږ ته هم په کار ده ترڅو خپلې ملي ژبې ته ځانګړې پاملرنه وکړو، پښتو زده او نورو ته یې وښایو، د نورو ژبو څخه لیکنې او اړین اثار وژباړو، ترڅو پښتو ژبه لکه د نړۍ د نورو ژبو په شان غني او بډایه شي.

لیکوالۍ او شاعرۍ سره مې له پخوا مینه وه او کوښښ مې کاوه چې خپلې لیکنې او شعرونه ولرم، ننګرهار عالي لېسه کې قدرمن استاد یار محمد کوچي به موږ ته په خورا ډېر شوق او ذوق سره درس راکاوه، نو له همدې کبله مونږ به د پښتو ژبې درسي ساعت ته د خپلو ګوتو په بندونو ساعتونه او ورځې شمېرلې، خدای بخښلي استاد به د خپل مضمون درس ورکولو سره سره د پښتو ژبې تاریخ او ادب په اړه زیات سیمینارونه او لېکچرونه راکول او موږ به یې زیات هڅولو

او د زړه له اخلاصه به يې درس راکوه.

د ګران هېواد ډېرى شاعرانو سره مې په لسګونو مشاعرو کې ګډون کړى او د هر يوه له شعر مو خوند اخېستى. الله پاک دې ټول تاند او آباد لري.

د هر شاعر او ليکوال د ليکلو ځانګړی طرز وي، چې په ادبي اصطلاح ورته سبک وايي. د ځينو شاعرانو شعرونه او سبکونه سره دومره ښکاره او ورته وي چې په اسانۍ سره پېژندل کېدی شي لکه د رحمان بابا، حميد مومند او خوشحال خان خټک شعرونه بېل بېل سبکونه لري، خو د فکر او مانا له حېثه يې رنګ له ورايه مالوم دی.

لومړېو کې يو شاعر ته په کار ده چې د شعر او ليکوالۍ لومړني اصول ولولي او ځان پرې پوه کړي او بايد کوښښ وکړي چې د فن او هنر له مخې ځومره لفظي او معنوي ښېګڼې چې د شعر او ليکنې لپاره په کار وي په خپلو ليکنو او شعرونو کې ولري.

د خپلو فرهنګي هڅو بهير کې مې د رڼا او علم په نامه په انګليسي ژبه خپرېدونکو ورځپاڼو سره پوره مرسته کوله او په ډېرو لږو امکاناتو به مو په ننګرهار کې مينه والو ته په انګليسي ژبه خپرونې برابرولې.

غواړم ياده يې کړم چې د هېواد ختيځو ولايتونو لپاره د خپرېدونکې **سالو** (علمي، ادبي او ټولنيزې) مجلې بنسټ مې کېښود او د يادو څلورو ولايتونو لپاره به مې په ښه او لوړ کېفيت خپرونې وړاندې کولې، په لسګونو ورځپاڼو او مجلو ته مې خپلې ليکنې او شعرونه ورکړي او هېوادوالو ته مې په چاپي بڼه د علمي ګټې اخېستنې په موخه وړاندې کړي دي.

همدا ډول د ګرمو اوبو کبانو د روزنې او پالنې برخه کې د ليکل شوو اثرونو نشتوالي له امله مې د کب پالنې علمي او عملي لارښود سږ کال بيا ځلې چاپ کړ، همدارنګه له تېرو درېو کلونو راهيسې د **پرمختګ** (کرنيزې، علمي او ټولنيزې) مجلې د مدير مسؤل په صفت دنده هم ترسره کوم. د دې سره سره د لسګونو بوختياوو ترڅنګ کوښښ کوم، چې د پښتو شعر او ادب ته د زړه له تله خدمت وکړم. الله پاک دې د لازيات خدمت کولو توفيق راکړي.

په ۱۳۸۴ لېږديز لمريز کال کې مې پرېکړه وکړه چې د خپلو شعرونو ټولګه چاپ کړم. کله چې مې ټولګه چاپ ته چمتو شوه، نو په هماغه اونۍ ځينو قاربدلو پاڅونکوونکو مې کاري دفتر ته اور ورته کړ، د شعرونو کتابچې، يادښتونه او ليکنې مې د اور خوراک شوې، همدا وه چې د شعرونو سوځېدلو زيات ودردولم او بيا مې د چاپ په هکله فکر هم ونکړ.

دا ځل مې بيا هوډ وکړ، چې انشاالله خپله لومړۍ ياني همدا شعري ټولګه **(ستا له غمه)** چاپ کړم او هم به راتلونکي کې زيار باسم، ترڅو درې نور چاپ ته چمتو کتابونه مينه والو او د مسلک خاوندانو ته د چاپ په ډول وړاندې کړم.

له خپلو ټولو هغو دوستانو او ملګرو د زړه له کومې مننه کوم چې تل يې زما شعرونه، نظمونه



او ليکنې خوښې کړي او زه يې هڅولی يم چې لا ډېر شعرونه او ليکنې مينه والو ته وړاندې کړم او له دوی بيا هم مننه چې د دې شعري ټولګې په کمپوز او چاپ چارو کې يې راسره مرسته کړې ده:

غواړم له ټولو دوستانو مننه وکړم چې د کتاب د چاپ په برخه کې يې له زړونو مرسته کړې او دا کتاب يې تر دې دمه راورساوه. له ګران ورور ښاغلي څارنوال سيد فريدون مياخېل نړۍ مننه او کور يې ودان چې د شعري ټولګې په چاپ کې يې پوره زيار او کوښښ وکړ، په خپلو ارزښتناکو سپارښتنو يې لا ښکلا وروبخښله او د ورورۍ حق يې ادا کړ.

له ښاغلي پروفيسور نعيم عظيمي مننه چې په شعري ټولګه يې ليکنه وکړه او خپل ارزښتناک نظرونه يې راسره په کې شريک کړل. له خوږ ژبي دېکلوماتور ښاغلي محمد الياس الهام د زړه له کومې مننه چې تل يې په خپل خوږ غږ زما شعرونه او نظمونه دېکلومه کړي او د مينه والو ادبي تنده يې پرې تل خړوبه کړې ده. همدارنګه له ګرافېک ډيزاينر ښاغلي عارف بېکران مننه او په ګلالېو ګوتو يې برکت، چې دا ټولګه يې په ډېر ښکلي ډيزاين چاپ ته وړاندې کړه.

ستاسې د ټولو د مينې پوروړی يم، له تاسې ټولو مننه، بيا مننه او بيا هم مننه، سرلوړي اوسئ.

هيله لرم زما دا توري کرښې چې د زړه درد او غږ مې دی د ټولو مينه والو خوښې شي او د مينه والو ادبي تنده پرې ماته شي. لوی څښتن تعالی دې راته خپلو هېوادوالو او په ټوله کې ستر بشريت ته د لا خدمت کولو توفيق راکړي. آمين!

درنښت

ډاکټر ايمل ارمان

۱۴۰۰ لېږديز لمريز - ژمی | کابل افغانستان

## اسلامي نظام

راوړو محمد (ﷺ) چې دې دنیا ته آسماني نظام
ځکه معتبر شو چې تل پاتې عالمي نظام
ټول عالم روان ؤ له یو مخې جهنم لور ته
رب پرې رحم وکړ چې نازل شو قراني نظام
نړۍ ټوله پرته وه په تیارو د وحشتونو کې
حضور کړله روښانه چې یې راوړو الهي نظام
ډېر غلامان خلاص شو له ستم د جابرانو نه
زړونه یې شو روښانه چې یې قبول کړ د خلاصي نظام
غم د مظلوم نه خوري که هر څومره رسېدلی وي
سپک او شرمنده دې وي هر ځای کې طاغوتي نظام
موږ افغانان هر چاته په سترګو کې اغزي چې یو
دین زموږ اسلام دی، مونږه نه غواړو کفري نظام
موږ دښمن ته هر وختې مېړانه ورښودلې ده
د یو قانون پابند یو غواړو هر وخت اسلامي نظام
ته ارمانه! هر وختې په مینه کې صادق ښه یې
ښکلی دې وطن دی خوښوه دا سروري نظام





## رڼا

مایوسي لویه بلا ده
د خپل ځان سره جفا ده
د الله دربار ډېر لوی دی
تل تیارو پسې رڼا ده
کلک باور دې په رب ساته
ستا هر خبره یې رضا ده
خبر یې رسي ټول عالم ته
تل ګناه زما او ستا ده
هر څه راکړې بې حسابه
ورته تل مې تمنا ده
ثنا وایم رب کریم ته
د الله(ج) وعده رښتیا ده
د هغه له دره یې غواړم
رب غني ته مې دعا ده
ارمان! رب ته تمه ساته!
د هغه در ته رڼا ده

## فکرونه

څومره مې له درده دي فکرونه ډک
ویري نه مې ټول شولو خوبونه ډک
دلته قدر نه لري عبث شولو
خوشې مې ماغزه له کتابونو ډک
هر سړی دې دلته هلته قدر کړي
وي دي چې روپیو نه جېبونه ډک
ښه به وي چې سوال چاته ونکړې نور
خلک مرسته نکړي تور یې زړونه ډک
مینه د اشنا قسمت غنا غواړي
بند دي نصیبونه قسمتونه ډک
هر څه دي پرېمانه، خو ارزان نشول
هر څه گران خرڅېږي، دوکانونه ډک
دلته به مې ژوند چېرې ونشي نور
یمه سرگردانه شول وختونه ډک
وه آرمانه! څه ته دلته پاتې یې؟
او هلته عزت نشته دی کمپونه ډک





## ناقرار قلم

کلونه کېږي ته د دې خاورې ماتم ته گوره
سر دې کړه پورته! لږ زما د زړگي غم ته گوره
آهونه خېژي د زړه سره هیڅ قرار نلرم
لوگي چې خېژي له هر چمه دې ستم ته گوره
د زړه بلبل مې مرور دی زوړ بوستان نه ښکاري
پرې نه رغېږي نن هماغه زوړ ملهم ته گوره
ښکلي وطن باندې روښانه د رڼا ډیوې وي
تیارې خورې دي، ته زموږ د کلي چم ته گوره
هسکه شمله مو د بابا وه څه وطن ؤ زموږ
اتک ویده دی ترینه هاخوا ته جهلم ته گوره
د وطن پېغلې مو په بل وطن کې خوارې گرځي
یتیم ژړېږي ناقرار زما قلم ته گوره
د غم سیلی پرې لگېدلې هیڅ ارام نلري
اوښکې بهیږي د ارمان د سترگو نم ته گوره

## د تکبیرونو شار

افغانه وروره خپل افغان پېژنه
زخمي زخمي افغانستان پېژنه
دسرو مرغی، لعل او مرجان دي په کې
ترېنه چاپېره غلیمان پېژنه
د بلال کور د تکبیرونو ښار دی
د هرې لوري نه آذان پېژنه
نن ګیدړانو پرې یرغل راوړی
د زمرو کور زموږ جانان پېژنه
نن شرابي په نشه خوب لیدلی
خپل زوړ دښمن خبیث انسان پېژنه
غماز به هیڅکله مو خپل نشي نور
د خپل هېواد ټول ګاونډیان پېژنه
افغانه وروره! اتحاد ته کینو
د قصبې ایمل ارمان پېژنه





## بختوره روژه

الله سره په مینه کې بهتره ده روژه
بې شانه یې حکمتونه، معتبره ده روژه
د هر مرض شفا ده دا طبیبه ټاکل شوې
عقبا کې هم له هر څه معطره ده روژه
که غواړئ چې روغتیا مو وي تر تله برقراره
اطاعت یې تاسو وکړئ، بختوره ده روژه
د شرق او غرب واړه ډاکتران پرې متفق دي
بې شمېره علاجونو کې نام وره ده روژه
د معدې د ضعف لپاره هم بهتره ده پرهېز کې
که زیاتوالی وي د وزن ګټوره ده روژه
الله دی بې نیازه دا پر مونږه امتحان دی
وربېري رحمتونه را د بره ده روژه
ارمانه! ته که غواړې د تقوا صفت پیدا کړې
الله ته رجوع وکړه با اثره ده روژه

## خاونده بیا که راشي!

خاونده بیا که راشي
د ماشومتوب وختونه
د لېونتوب وختونه
چې به مو ټوله ورځې
د خپل همزولو سره
د دې ګودر پر غاړه
آبادول کورونه
***
خاونده بیا که راشي
هغه نشه د ځوانۍ
چې به خمار ګرځېدم
هغه بلبل د زړه مې
چې به یې نغمې ویلې
***
خاونده بیا که راشي
زموږ ګودر غاړې ته
هغه حسینې پېغلې
چې به په ډلو راتلې





د کور نه سترې راتلې
خو د ګودر پر غاړه
یوه شېبه خپلو همزولو سره
د زړه خواله وکړه
سترګیا به یې هېره شوله
***
خاونده بیا که راشي
د هېواد سپینې ګلالۍ کوترې
د ارامۍ او سوکالۍ کوترې
چې څو لسیزې مخکې
له دې خاورې تللې
***
خاونده بیا که راشي
د رحمتونو باران
چې وچکالي ورکه کړي
د شنو فصلونو باران
ټول په زارۍ یوو درته
د کبریا خاونده .....

۱۳۸۰ لېردیز لمریز کال - ننګرهار

# افسوس

خپلو پردو وخورو، څو لېونو وخورو
خو رقيبانو افسوس، ښه په مزو وخورو
دا د لړمې بچي، د مور په غوښه لگيا
هېواد يې لوټ تالا کړ، پردو جگرو وخورو
څو لېوني راغلي، څه يرغلگر راغلي
چې پرې اخته يو مدام، دې اندېښنو وخورو
ښاپېست خو خدای ورکړی، لېوني مونږ پسې يو
دغه خوبانو والله، سم په نخرو وخورو
ښاپېسته ځوانان زمونږه، دې څو لسيزو يوړل
د څو کلونو څخه، دې تورو شپو وخورو








# څه چل شوی

په دې سيمه پر دې ښار مو څه چل شوی
د دې خلکو په روزگار مو څه چل شوی
چې هر وختې به يو جمعې ته راتلل ټول
د مسجد په صف قطار مو څه چل شوی
ډېر څوک نشته په هر ځای کې خاموشي ده
ټول خالي دي، په بازار مو څه چل شوی
چې به مينه، ورورولي وه په وطن کې
نفاق خپور دی، په گفتار مو څه چل شوی
باران نشته، واوره نشته، وچکالي ده
په کابل، په ننگرهار مو څه چل شوی
د ارمان وينا وي سخته، خو رښتيا وي
روزگار نشته، په هر کار مو څه چل شوی





## سترګې

چې چا خوږلی وي ګوزار د سترګو
نور به رانشي پر دې لار د سترګو
ښکلو نه تمه د وفا که کوې
ما یې لیدلی دی روزګار د سترګو
په سترګو سترګو ګرځېدلی یمه
راته مالوم دی هر بازار د سترګو
په زور او زېر به یې ښه پوه کړمه زه
که مې مونده کړ، خریدار د سترګو
په زړه داغلی کلی او کور پرېږدي
څوک چې ستي شي په انګار د سترګو
د سترګو سترګو کیسې ډېرې شولې
هر چا ویل زه یم بیمار د سترګو
ارمان له تورو سترګو اور اخېستی
ځکه موړ نه دی په دیدار د سترګو








## لېونی عشق

نور عشق هم لېونی شو خمارونه لوبوي
د سرو وینو ډنډو کې پرهرونه لوبوي
مینه یو جذبه ده چې په زړه کې شي داخله
د زړه په سر نڅېږي اندامونه لوبوي
مینه یو رڼا ده چې د زړه په کور کې راشي
نفاق په اتفاق کړي سحرونه لوبوي
زاړه خوبونه لاړل اوس خوبونه لیوني دي
توره شپه کې راشي، ځوان عمرونه لوبوي
دا جوش دی، که جنون، چې شول خیالونه مې بې واکه
دې سترګو ته اشنا ستا تصویرونه لوبوي
بې قدره دومره نه یم څومره تا ته چې زه ښکارم
دا ځوان احساس مې هر وخت غزلونه لوبوي
ښکاري نه یم دې لاره کې رقیب لره مې ناست یم
دا شوخ نظر مې ګوره سره اورونه لوبوي
زما خوږه دلبره ارمان سوی ستا په عشق کې
سکروټې لاس کې اخلي انګارونه لوبوي



## پتنګ

یمه پتنګ د پانوس شمعې ته تاوېږم ځکه
خورمه غوټې په سرو لمبو باندې سوځېږم ځکه
یمه پتنګ کوومه مینه د پتنګ پشان
شومه فدا له دې دنیا نه روانېږم ځکه

## نن


په زړګي مې راورېږي، یاره ته
په هیچا مې نه لورېږي، یاره ته
له سهاره مې نن بیا سترګه رپېږي
نن مې سترګو ته درېږي، یاره ته

## وصال

که د یار سره وصال شي، ښه به وي
ترینه جوړ که یو جمال شي، ښه به وي
هیڅ پوه نه یم چې په څه رانه خپه دی
که لږ جوړ په څه کمال شي، ښه به وي







## وعده

اشنا ژړا مې ده، خندا خو نه ده
پخه وعده مې ده، څه ستا خو نه ده
اشنا وعدې راکوې، چل به کوې
هره خبره دې، رښتیا خو نه ده

## یقین

دومره مې یقین دی، چې اشنا راځي
زما نه لرې تللی یو ځل بیا راځي
له خپلو پردی شوی، حالاتو دی ځپلی
پخپل یار مې باور دی، خامخا راځي

## غم

جانانه! لږ خندېره پر ما غم راغلی دی
د تورو شپو نه وتی یو ماتم راغلی دی
زما نه خپه نشې! نن راغلی مې جانان دی
د ډېرو مودو ورک زما صنم راغلی دی

# عشق

ځواني خو ښه وي، خو چې کله په جانان واوړي
زړه خپل لوګی کړي، چې په مینه کوم انسان واوړي
مجازي عشق باندې اخته وي ځان په اور سوځوي
په اور سوځېږي، چې دې کله په نادان واوړي
د ځوانی عمر خپل مجنون غوندې صحرا ته یوسي
غم کې کړېږي، ترڅو مینه کې کامران واوړي
پــه صــورت روغ وي، خو له ورایه لېونی ښــکاري
ســودايي ګرځــي، چې د مینې په خپــګان واوړي
د اشنا مینه کې وي غرق خیال په عقبا یې نه وي
نصیب که یې نشي، بیا په لور د بیابان واوړي
دنیا فاني ده مینه یې هیڅ وخت کې بقا نلري
څوک چې غلط شي بیا زما غوندې ارمان واوړي





# غزل

د یــو ښــکلي فطرت کــې مې وفا لیدلــې نه ده
د توري شــپې په مینځ کې مې رڼا لیدلې نه ده
د ژونــد هــره لحظه مې ټوله یار نــه نذرانه کړه
لا تر اوســه مې د یار غېــږ کې پناه لیدلې نه ده
بیــا حســینه لیلا راغلــه زما نه یــې مخ چپ کړ
پــه دې بانــدې غره وه ګوندې مــا لیدلې نه ده
د کمر په ســر ولاړ وم په اشــنا مې چغې وکړې
ګــودر شــو ترېنه پاتې نــن هیچا لیدلــې نه ده
زمــا د خــوب ملکــه تــر ســبا بــه راســره وه
پــه غم بانــدې اخته یم نن مې بیا لیدلې نه ده
ارمان یې په طلب شو، هره خوا یې منډې وکړې
پــه دې باندې خپه یم، چا رښــتیا لیدلې نه ده

## بې غمه ناصح

نــن ګلونــه مــو زخمــي دي، دا ويرونــه هســې نه دي
پــه هــر ځای کــې دي قبرونــه، بېرغونه هســې نه دي
دا وطــن د ننګيالــو دی، ننګيالــي يــې زېرولــي
هــر يو تن باندې چې ګورې، پرهرونه هســې نه دي
آزادي مــو ده ګټلــې، مونــږ بچــي يــوو د ملالــې
انګرېــزان مــو دي شــړلي، تاريخونــه هســې نــه دي
د خپــل پــاک هــدف لپــاره، کلی او کــور ۀ رانــه پاتې
سره روسان مو ترې ويستلي، وران کورونه هسې نه دي
پــه هر کــور کې زمونږ کونډې، پــه ژړا ټول يتيمان دي
دا پــه اوښــکو لمبېدلــي، ګرېوانونــه هســې نــه دي
د تورتــم شــپې وې راغلــې، پــه مونــږ خــوارو افغانانو
لــه هــر تنه مــو پــرې شــوي، اندامونه هســې نه دي
د ظالــم نظر ســپېره دی، وخت په وخــت کاڼي راولي
د هــر لــوري نــه ظلمونــه، دا ګواښــونه هســې نه دي
ای ناصحــه يــې بــې غمــه، لږ زمــوږ حال نه خبر شــه!
د ارمــان پــه شــانې زړو کــې، ارمانونــه هســې نه دي





## پوښتنه

چې کله مړ شم تر مزاره مې راځې او که نه
د خاورو قبر، تر دياره مې راځې او که نه
چې په سختېو دې زما پوښتنه ونکړله
چې شمه مړ دعا لپاره مې راځې او که نه
که په ما راغله يوه ورځ به دا په تا هم راځي
د هديرې تر دنګ مناره مې راځې او که نه
که له اوله زه خبر وی ما به ځان ساتلی
پر اغزن قبر، پر دې شاړه مې راځې او که نه
اشنا خپه دې کړم، نور تمه زه له تا نلرم
د خوږ غزل تر يکه زاره مې راځې او که نه
ارمان خو مينه او وفا درسره ډېره وکړه
چېرې به ته تر ننګرهاره مې راځې او که نه

## ښکلي

ګـورم هرې خـوا ته دي روان ښـکلي
ګل پشان ښایسته، پرمونږه ګران ښکلي
هر خوا ته چې ګورم ښکلي ښکلي دي
ځمکه ترینه ډکه، هم آسـمان ښـکلي
ښـکلي د یورپ خلک ډېر ښـکلي دي
شي دې له یو مخې مسلمان ښکلي
هر خوا ته مو ربه ښکلي ښکلي کړې
واوره کړه، ږلـــی او هم باران ښکلي
ښـکلي بـه د تل پشـانې ښـکلي وي
دوي به چېرې نشـي مهربان ښـکلي
زه ارمـان د خدای حسـن پرسـته یم
خدای دې له موږ نکړي پرېشان ښکلي





## د زړه تسل

زړګیه مه غواړه رفتن د بې وفا په لوري
چې یې داغلی د هغه ظالم اشنا په لوري
زه غریبی سپېره بدن او ببر سری کړمه
قدر دې نکړي، نور ته مه ځه د ښکلا په لوري
ته مې منلې چې وعده او وفا ښه پېژنې
دا اوسني ښکلي روان دي د جفا په لوري
دې څو کلونو د وطن خلک بدل کړه راته
اشنا دې ګوره چې روان د خپل مدعا په لوري
د محبـت او د دنیـا خبـرې ډېـرې کېږي
زړګیه مه ځه د یو ښکلي د خندا په لوري
ارمانـه ګـوره! د فاني دنیا دسـتور او رواج
دنیا شي پاتې، هر سړی ځي د عقبا په لوري



## غزل


د یوې پولې قرضداره، انسانانو کې مې شماره
دردېدلی یو انسان یم ملنګانو کې مې شماره
د ادم نه یې راحساب کړه تر دې دمه یې شماره
د ادم واړه بچیان یو، افغانانو کې مې شماره
د وختونو دې ناخوالو ګران وطن راته ویران کړ
په کلونو زورېدلی غریبانو کې مې شماره
که په رضا نه وي، یو ورځ به یې په زوره اخلم
د فرضې کرښې وراخوا حقدارانو کې مې شماره
ای رقیبه! ته تر ننه د بادار د لاس امسا یې
هر دښمن مې پرځولی په غازیانو کې مې شماره
دا چې سپین مخ ته ځلېږې هم وطن دې رسېدلی
د منت خواره دې ورک شي مسکینانو کې مې شماره





## قافله

څومره مو تنها نن قافله شوله
خوا کې مو بیا ډکه هدیره شوله
ټول یوو ورته ناست که به دوی بیا راشي
ښکلو سره بیا زموږ جرګه شوله
تتې دي د ښار د روښنایۍ ډیوې
بیا تیارې خورې دي، دلته شپه شوله
وېرې څخه بیا له مخې کډه شوو
دلته ښکلي نشته، بیا تیاره شوله
هر څه را نه اخلي، خبر یې نه رسي
ظلم نه نن ډکه زمانه شوله
هر څوک خپله پښه، مې په مرۍ اېږدي
خوله مې بندوي، دا څه کانه شوله
وه ارمانه! پام چې وارخطا نشې
صبر ته کوه، سخته چاره شوله



## د اشنا سفر

ټـول ترېنـه روان دي پـه ازل دی د عقبـا سـفر
پاچا ترېنه روان دی، هم ملنګ کړي له دنيا سفر
دې فانـي دنيـا کې څـوک تر تله اوسـېدلی دی؟
وخت چې يې پوره شوی بيا يې کړی خامخا سفر
ډېر شاهان تېر شوي په هر وخت او هر زمان زموږ
نه يې لمانځو تلين، که يې کړی په هر خوا سفر
نن چې راټول شوي له هر خوا نه پښتانه ورونه
داسې راته ښکاري چې نن لمانځې د يو چا سفر
نه خو دا يو شـاه ؤ چې صفت يې د لښـکرو کړو
نـه پـه دنيـا خان ؤ چـې يې کړی د سـخا سـفر
دا ملنـګ پښـتون ؤ، خـو دښـمن يـې لړزولی ؤ
ويښ يې پښتانه کړه، په نصيب يې د رښتيا سفر
رښتيا چې دی پښتون ؤ، د پښتو حق يې ادا کړلو
موږ به هم ژوندی ساتو د دې په شان اشنا سفر
دا د ارمان څو کرښې وينا به ملنګ جان ته څه يې؟
وي دې صد رحمت پرې چې يې کړی د ښکلا سفر

۱۳۷۹ لېرديز کال - ننګرهار
په هېواد مئين شاعر ارواښاد ملنګ جان د ۴۳م تلين په ياد





## ښاغلی



ښکلی يې، ښـاغلی يې زما په نوم
هـر چاتـه منلـی يـې زما پـه نوم
نور خو به دې هر سړی ډېر قدر کړي
هـر چـا پېژندلی يـې زما پـه نوم
هغـه چـې دې دلتـه هلتـه پېژني
تـل يـې نازولـی يـې زمـا پـه نوم
تـورو ترږمـو نـه مې ويسـتلی يې
دلتـه رسـېدلی يـې زمـا پـه نـوم
دومـره زر پـه بيـره ولـې لاړلـې؟
بيا به چېرې تللی يې زما په نوم؟
حسن او ښاېسـت دې ثاني نلري
چـا بـه ته وژلـی يـې زما پـه نوم
مـا نـه دې تپـوس چيـرې ونکړلو
چـا کـره ورغلـی يـې زمـا پـه نوم
شـعر او په غزل کې دې زه ستاېمه
بيـا دلتـه راغلـی يـې زما پـه نوم

# غزل

د حسـن پرېښـته ده د هجران به څـه پروا کړي
غریب مُطلب يې پروت دی، د فغان به څه پروا کړي
پـه حرامـو لويـه شـوې، د غربـت نـه ناخبـره
د خـوارو غريبانـو پـه تـاوان بـه څـه پـروا کړي
شـــرابو پـــه بوتلـــو نازېدلـــې ده حســـينه
بې ستره، شرمېدلې د خپل ځان به څه پروا کړي
پـه نـاز نخـرو روانـه پـه سـتم کـې ده، مکبيـره
پـه غـم کـې کړېدلـې ناتـوان بـه څـه پـروا کړي
دا لـــه دردونـــو، کړاوونـــو ناخبـــره پېغلـــه
د کونـډو يتيمانـو پـه خپـګان بـه څه پـروا کړي
ارمـان ورتـه جوړ کړی د نفـرت کمربند ټينګ دی
پـه غـم کې لوبېدلـې، د زنـدان به څه پـروا کړي





# ټايټانيک

دا نوم څنګه خپور شـوی، شـول نومونـه ټايټانيک
رواجونــه ټايټانيــک شــوو، بازارونــه ټايټانيــک
زمـوږه نايـان ګـوره پـه سـرونو څـه نخـرې کـړي
فوجي کټينګ رواج شـو، شـول مودونـه ټايټانيک
زمـوږ د سـاده کلي سـپينکی يار مې چـې نن ګورم
فوجـي کټينـګ يـې کـړی، زلفـې ولونـه ټايټانيک
په ښکلي ننګرهار کې لوي مارکېټ هم ټايټانيک شو
سـقاوه، حمـام کـې ګـوره اوربلونـه ټايټانيـک
همـدا فخر مو بس دی چې مسـلم افغـان يادېږو
نـو څـه لـه بيـا رواج دي تقليدونـه ټايټانيـک
د علـم پـه دنيا کـې له موږ وروسـته عالمان شـول
خـو اوس يـې راويسـتلي رواجونـه ټايټانيـک
زموږ د ګران وطن هر ښکلی څيز په کباړ اخلي
خـو مـوږ تـه بيـا رالېـږي سـامانونه ټايټانيـک
ارمانه! يوو بې علمه چې هر څيز د بله غواړو
د کفـر تقليـد زور شـو، شـول فلمونـه ټايټانيـک

## سپینه سپینه

ته زما ښکلې سپوږمۍ یې سپینه سپینه
ځومره ښکلې ښاپېرۍ یې سپینه سپینه
سپینو، تورو نه هر وخت مېدان ګټلی
سپینه سپینه ګل غوټۍ یې سپینه سپینه
دسپین‌غره‌ښاپست‌دې‌ځان‌سره‌راوړی
دنګه بنګه یو کوچۍ یې سپینه سپینه
پنجابۍ کږې وږې د چا خوښېږي
ته زما ننګرهارۍ یې سپینه سپینه
ځومره ښکلې اداګانو کې ته ښکارې
یو خوش رویه خندنۍ یې سپینه سپینه
په ډېر چل دې زما د زړه مېوند کړ فتحه
شکر باسم افغانۍ یې سپینه سپینه
ښکلو حسن په غریبو پېرزو نه دی
د ارمان د چم جنۍ یې سپینه سپینه





## مزل

اوږد مې مزل شو ډېر ستومانه شوم
لار ډېره اوږده شوه ناتوانه شوم
ټول دردونه زغمم یاره تاته صرف
غم باندې اخته ډېر پرېشانه شوم
ستا د مینې درد مې په زړه ځي راځي
شپه او ورځ کړېږمه نادانه شوم
بې له تا مې ژوند ؤ آسوده آرام
ستا له مینې وروسته سرګردانه شوم
ته خاطر د مینې محبت نکړې
ماته نه راګورې نور ستومانه شوم
سختې کړاوونه مې ډېر وګالل
بند په بند ترلی تر ګرېوانه شوم
زه ارمان د مینې یو سخي پاچا
ته پروا مې نکړې بیا حېرانه شوم

## ښکلی اشنا

ښکلي اشنا ته مې نظر کړ په لړزان ولې شو
حېران په دې شوم چې رقیب ته نن خندان ولې شو
د ښکلا باغ ؤ او د حسن بلبلان یې ډېر وو
ستم یې وکړلو پر ما د غم ګذران ولې شو
زما خو خیال ؤ چې د یار سره تر مرګه اوسم
دی چې نن ګورمه زما نه په هجران ولې شو
زما ارمان د ژوند وصال د خپل جانان سره ؤ
چې یمه پروت په بېلتانه کې دا خزان ولې شو
چې به مې شونډې تل لمدې وې د نرګس پشانتې
شونډې مې وچې شوې پر ما د غم طوفان ولې شو
زما د ژوند باغ چې تازه ؤ په دیدن ؤ د یار
یار بې وفا شو نو تالا مې دا بوستان ولې شو
ارمان نور تمه د خوبانو د وفا نه کوي
ارمانجن پاتې په دنیا دی په تاوان ولې شو





## عدل او انصاف

دومره تهمتونو کې، څنګه ګذاره وکړم
دلته نوره نه کېږي، څنګ خپله چاره وکړم
عدل او انصاف نشته، دلته رحم نشته دی
یو ورځ مې قرار نشته، دلته څنګه شپه وکړم
دلته د ظالم مخه په هیڅ صورت نیوی نشي
ځان ته چې ورپاتې یم، څنګ مبارزه وکړم
دلته بس خبرې دي، د کار خلک ډېر نشته دي
هر څه زموږ وران شولو څنګه ننداره وکړم
دلته د رښتیا پر ځای، دروغو کلي وران کړل
هر څه عجیبه شانتې، لرې به دمه وکړم
هر وخت د هېواد سره مینه محبت پاله
نور خلک یې څه کوي، لږ به اشاره وکړم
دا دنیا فاني ارمان! دې باندې باور نشته
سر د پاسه سر شته دی، یار ته به پلمه وکړم

# غزل

نن خو بیا توري شړنګېږي الله خیر
ظالم بیا راته ګواښېږي الله خیر
خوږ اشنا مې د رقیب سره پخلا شو
د خطر وریځې تاوېږي الله خیر
ورځ په ورځ عالم رسېږي رانه اوج ته
جوړ وطن راته ورانېږي الله خیر
سپین غر وسو، سره لمبه شو لمبې خېژي
د افغان ولس ژړېږي الله خیر
ورورولي په ختمېدو ده، ځان ځاني ده
ورور له وروره جلا کېږي الله خیر
د ارمان آهونه خېژي له ګوګله
روح یې تن نه روانېږي الله خیر





# وطن

واوره او باران دلته ډېر نه کېږي
فصل او ګلان دلته ډېر نه کېږي
دلته د یو جنګ پسې بل جنګ راځي
امن په هیڅ شان دلته ډېر نه کېږي
دې هېواد کې ډېر شولو غمونه زموږ
ژوند مو په ښه شان دلته ډېر نه کیږي
زمونږه خوشالي له منځه تللې ده
یو ځای کې ګذران دلته ډېر نه کېږي
دلته له هر خوا نه موږ تهدید شولو
جنګ مو په مېدان، دلته ډېر نه کېږي
مینه او پالل یې شجاعت غواړي
ژوند د نېک انسان دلته ډېر نه کېږي
وه ارمانه! ډېره حوصله ساته
ژوند د هر افغان دلته ډېر نه کېږي

## مینه

ما بـه کـړه مینـه، خو تـا هـر وختې جفا کوله
تـا بـه خنـدا کـړه او مـا نـورو تـه ژړا کولـه
د غریبـی لـه لاسـه تـا تـه مـا هیـڅ اونـه ویل
مینـه پـه زړه مـې وه، خـو تانـه مـې حیـا کوله
زه وم پـه تمـه، خو تا ژوند په خوشـالېو تېر کړو
هـر چـا ښـېرا درتـه، مـا تـل درتـه دعـا کولـه
سـتا پـه خاموشـه څېـره، زه پخـوا تېروتی ومه
سـتا یـو ځـواب تـه مـا هـر وختـې تمنـا کوله
اوس هم لا وخت دی، لږ مې یو ځلې پوښتنه وکړه
لـه تـا یـوه هیلـه مـې دا ځـل پـه رښـتیا کوله
د ځوانـی عمـر کـې ارمـان درتـه په تمـه ؤ ډېر
مـا خـو هـر وختـې دې پوښـتنه خامخـا کولـه





## د ښکلا ښار

د ښـکلا لـه دغـه ښـار سـره یـې جفـا وکړلـه
خپلـو پـردو ورسـره ډېـره انتهـا وکړلـه
معلومـه نـده چـې ګنـاه او خطـا به یـې څه وه
چـې ورتـه ډېـره لـه خپـل حده چـا ښـېرا وکړله
دې دنیاوالـو مـو مـدام تـل ننداره کړېـده
دې څـو لسـیزو کـې مـوږ هـر وختـې ژړا وکړلـه
چـې سـر یې پورته کړ، ناره مـو د تکبیر پورته کړه
هـر یرغلګـر سـره مـوږ هـر وختـې غـزا وکړلـه
د ښـکلا ښـار مـو دا دی، بیا ځلې لمبه لمبه شـو
کابـل جـوړ نشـو، مـوږ خو تـل ورتـه دعـا وکړله
باور مې نشي چې څوک تللي، که به بیا نور راشي
اشـنا چـې تلو ډېر یـې له موږ سـره خنـدا وکړله
ارمـان خـو پاتـې دی تنها دلتـه خدمـت لپـاره
دلتـه تـل پاتـې، خـو غمـاز ښـه نـاروا وکړلـه

## غزل

پسې ګرځم پېدا نشو مستانه
پېدا نشو هيڅ د ښار په مېخانه
يو ناځاپه مې د سترګو نه پناه شو
يا ورک شوی يا کوي کومه بهانه
که رانغی پسې ګرځم نور خو نه
زه به شم ورپسې سم دم ديوانه
له سهاره تر غرمې راښکاره نشو
که ښکاره شي لږ بېګاه ته شبانه
لږ تپوس يې چانه وکړئ دا لحظه
چېرې نشي نور زما نه بېګانه
چې دی نه وي مې تر څنګه شبانه
نه تېرېږي يو ساعت مې جانانه
تور زلفان يې دي پر مخ دانه وانه
ماته نه ګوري کوي کومه کانه
د ارمان پښان مئين به پېدا نکړي
يار مې کبر کړي، ستم ظالمانه





## غزل

ښکلي به بيا کلي ته را شي که نه
دا ترږمی به مو رڼا شي که نه
چې په يو وار مو له دې چمه تللي
ټولې خوښی به را پيدا شي که نه
چې ګران هېواد يې راته وران ويجاړ کړو
ټول دښمنان به په سزا شي که نه
چې په خپګان له دې وطنه تللي
مرور ورونه به پخلا شي که نه
چې دوی پر مونږه هيڅ پيرزو نلري
ښکلي به موږ سره سلا شي که نه

# هېواد

زمـوږ وړوکی هېـــــواد
شـو مـو لـه لاسـه برباد
پـه خپلـه لاسـه رانـه
ویـران پـه نـوم د جهاد
ډېـر فرصتونـه مـوږ نـه
شـولو د بـل پـه مفـاد
حکومتـــداری د کـــرزي
خو غله ماړه کړل، هم ښاد
د پوهـې کـدر زمـوږ
پردي ملکونه کړل شـاد
دا بهرنــــي یرغلگـــــر
بېرتـه روان دي ناښـاد
ارمانـــه! ولـــې ژاړې؟
پـه وطـن لگي تنـد باد








# خاوره

خپلـو پـردو هم په يـو وار له مونـږه څنگ وکړلو
موږ هم حالاتو ته ورپاتې، صرف مو جنگ وکړلو
د څو لسيزو دې ناخوالو دلته هر څه وران کړل
مـوږ خـو والله که، پـر دې خاوره کلـه ننگ وکړلو
د وطن پېغلې زمونږ دلته هلته خوارې گرځي
ځوانان مو کډه شول، فرار يې ډير بې درنگ وکړلو
څـه ازلـي بدبختـه او څـه ناپوهـي مـو ډېـره
وطن مو وران شو، تمام ژوند مو ډېر بدرنگ وکړلو
د انگرېـز، روس، د امريـکا او هـر ظالـم له لاسـه
څـه ډېر ظلمونه پـر دې خاوره هـر پېرنگ وکړلو
ارمان هيڅ تمه په خپل ژوند کې له بل چا نکوي
پـه زره غنـي خـو تمام ژوند يې د ملنـگ وکړلو



# غزل

د دې ښکلو په لیدو مې زړه خوږېږي
د اشنا په ناکردو مې زړه خوږېږي
د صنم په تش لوظو باندې غلط شوم
د رقیب په خندېدو مې زړه خوږېږي
د ظالم په بد نظر مې زړه داغي شو
د افغان په جنګېدو مې زړه خوږېږي
کمپیوټر او انټرنېټ ګوره نن څه کړي
د خپل ملک په خوارېدو مې زړه خوږېږي
د لندن لوی بېلډینګونه به زه څه کړم
خوار وطن په ورانېدو مې زړه خوږېږي
سپکړې په بدلېدو باندې نن غم شو
افغانۍ په سپکېدو مې زړه خوږېږي
د تعلیم په قدر اوس څوک نه پوهېږي
جهالت په عامېدو مې زړه خوږېږي
ورورولي په ختمېدو شوه ځان ځاني ده
د نفاق په خپرېدو مې زړه خوږېږي
په بې شمېره اندېښنو ارمان اخته شو
ګران هېواد په سوزېدو مې زړه خوږېږي





# وطن

څنګه به نه ژاړو په حال د وطن
لمبه لمبه شولو جمال د وطن
د څو بدرنګو د ظلمو له لاسه
ټوټه ټوټه شولو دا ټال د وطن
د خپل پردي د ناکردو له لاسه
شولو بې خونده دغه کال د وطن
په ژوند کې خوښ وو، خوشالي ډېره وه
ناڅاپه راغی پشه کال د وطن
موږ وو په تمه روڼ سهار لپاره
تیاره خوره شوه په جلال د وطن
څنګه به نه ژاړو ملګرو سره
کلي پرېږدي دا مینه پال د وطن
ارمان روغ نه دی لیونی به شي زر
هیڅ یې جوړ نشو سر او حال د وطن

## غزل

راغله خوشحالي خوښي هر چا باندې
نشـته دی فرهـت ربـه پر مـا باندې
نشـته دی د ښـکلو پخوانـۍ مینـه
هر سـړی روان دی خپل مدعا باندې
رحـم، شـفقت، مهـر او وفـا نشـته
نـن زمـان چلېږي ټـول جفـا باندې
اصـل زر کـم اصل کـړي دا تور خلک
هیڅ پروا دوی نکړي په حیا باندې
زه همېش صادق په محبت کې یم
هیڅ اشنا ټینګ نشو په وفا باندې
چېرې چې جګړه او شخړه جوړه وي
هلتـه مې لالـی وي پـه سـبا باندې
وه ارمانه! ښکاري چې کمزوری شوې
څنګـه خلـک نه راځـي په تـا باندې





ستا له غمه

## غزل

دا مسته په ځوانۍ شوله په کړس باندې خندېږي نن
مجنون یې سودایي شولو په غم باندې کړېږي نن
جاذبـه یـې څېـره ده، داغـل د زخمـي زړه کـړي
بې وزله ګرفتار شـو د پتنګ پشـان سـوځېږي نن
دوران دی پـرې راغلی چاته نه ګوري په ښـه نظر
بلبل چې پرې نظر دی، دې ښکلا ته حېرانېږي نن
ښـکلا ته یې نظر ؤ، د دې کلک زړه ته یې نه کتل
نـو څکـه لېونـی شـولو پـه لر او بـر ګرځېـږي نن
وفـا پـه کې نن نشـته راته ښـکاري جفـا کاره ده
په چل باندې روانه ده، دا ښکلې نه خپلېږي نن
ګیلـه بـه ترینه څه کړم دا فطرت د ښاپېسـتوو دی
زه چـې یـې مئین کړم، نـو بیا ولې نـه غړېږي نن
ارمان به ترینه ځار شي که دا ښکلې یو سوال ومني
مجنـون ته که لیلا شـي چې دنیا نـه روانېږي نن

## غزل

ټولـو غمونـو تـه دې زه پرېښـودم
زه دې د غـم پـه دې کالـه پرېښـودم
مـا ویل ټوله شـپه وصال به یې اشـنا
خو تا په شـان د یو شـپانه پرېښودم
پښـتو او ننګ دې را معلوم شـو اشنا
چې دې په نیمه شـپه ویده پرېښودم
دا سختې شپې به خدای تعالی سبا کړي
هسـې دې غـم تـه دیوانه پرېښـودم
مینـه او ژوند خـو قرباني غـواړي تل
زه دې تنهـا پــه مېدانــه پرېښــودم





## غزل

جان مې که، جانان مې که
دې کلي کې خان مې که
اوس نـو چـې راغلی یې
خلکـو تـه عیان مـې که
هــر چــا پېژندلــی یــې
ځانتــه یو جهـان مې که
دلتــه کــه اوســېږې نــور
ځانتــه یو ارمـان مې که
هر لـوري ته ځـې راځې
خلکـو تـه بیـان مـې که
ښـکلی یـې ښـاغلی یې
ګل د ګلســتان مــې کــه
ټولــو تکلیفونــو کــې
درد ته دې درمان مې که

## خاونده څنګه هېر کړم؟

خاونده څنګه هېر کړم
د ژوندانه وختونه
چې تېرېدل په مینه
هغه حسین جانان مې
چې نازوه مې مدام

***
خاونده څنګه هېر کړم
اخېر ستم د جانان
د رقیب خوا ته چې شو
پټ مجلسونه یې کول
د رقیب غېږ کې مدام
دی خندېده به تابان
پر ما به اور بلېده

***
خاونده څنګه هېر کړم
چې اشنا یوځلې هر څه هېر کړل





زما اخلاص او مینه
ډېر ژر مغروره شولو
زما نه لېرې شولو
زه یې تنها پرېښودم

***
خاونده څنګه هېر کړم
اشنا رقیب سره مې
تنها په شپو اوسېده
د تورو شپو نه یو شپه
د رقیب ستم خاونده
چې په اشنا یې وکړ

***
خاونده څنګه هېر کړم
چې اشنا مې ولید خزان
رقیب ولاړ ؤ خندان
چې یې قصه کړه عیان
پر ما خولې شوې ماتې
اوښکې مې تلې رودونه
رقیب ولاړ ؤ خندان .....

## ځوان

ماشوم دی او لا نه پوهېږي، ځوان به شي
هر څه باندې پوه، نوموتی په جهان به شي
پوه به شي، عالم به شي، ارمان به شي
هر څه به د ځان په قیمت ورکړمه
ژر به دی رالوي شي پهلوان به شي

## جادو

چې په کومه لاره راشې هر نظر لمبه کړې
محبوبې ډېر دې پرزولې، پوخ ثمر لمبه کړې
په تورو سترګو دې پوخ کړی څه جادو منتر دی
چې له ورایه راښکاره شې سم او غر لمبه کړې





## تیندکونه

ستم ځپلی یم جانانه، تیندکونه خورمه
تاته راغلی یم پرېشانه، تیندکونه خورمه
د ځوانی عمر رانه وړی دی د مینې نشو
پر ما راغلی یې خزانه، تیندکونه خورمه
زړګیه ته هم هیڅ خبر نه وې چې مینه اور دی
اوس نو کړېږه ای نادانه! تیندکونه خورمه
زه غریبی سپېره بدن او ببر سری کړمه
یمه روان تر بیابانه، تیندکونه خورمه
د جدایي خبرې مه کوه، امکان نلري
نور ژوند مې نشي بې له تا نه، تیندکونه خورمه
د غریبی له لاسه پوه مې په ځوانی نشومه
لوړې وهلی یم ارمانه! تیندکونه خورومه



## د ګلونو هار

موسم د پسرلي دی، ښه هوا د غرو رغو ښکاري
شپونکی شپېلی وهي، خوا کې کوچی راته درخو ښکاري
همېشه بهار اوسي مدام د ګلو هار ننګرهار
بوي د نارنج یاره، راته طبیب د زخمي زړو ښکاري
بوی د نارنج دی بې احسانه خوار غریب ته رسي
دا چې وطن کې مې یې راته رواج د پښتنو ښکاري
ارمان! ثنا د رب دې وایه ډېر هوسونه پرېږده
دا چې ازاد ګرځې پاتې ژوندون د امېدو ښکاري






## غزل

راشه حسین اشنا، شیدو نه سپین اشنا
ته خوشاله ګرځې، زه شوم غمګین اشنا
پر ما خزان راغلی، وخت نه تیرېږي
بې له تا نور نشي زما شېرین اشنا
خدای دې پر تا چپه کړي بې وفا اشنا
دنیا لاندې باندې ای ماجبین اشنا
څه دې چې وکړل اشنا ما یې بخښلی
یو ځلې بیا راشه، شات او ګبین اشنا





## ستومانه


ډېرو ګرځېدو باندې سـتومانه شوم
دلته چې اوسـېږم سـرګردانه شـوم
دلتـه عجيبه غونډې کيسـې شـولې
خپـل راته پردي شـو، ناتوانه شـوم
هـر ځـای تهمتونـه دي او زه يمـه
بنـد پـه بند ترلـی، تر ګرېوانه شـوم
صبـر، حوصله خو هم خپل حد لري
سـترګو نـه لوېدلـی ډېر ارزانه شـوم
سختوکې پردي شي، خپل نږدې خلک
دې منافقـت تـه يـې حېرانه شـوم
دلتـه بـه خاطـر تـه د هر چـا کوې
خلـک رحـم نکـړي، مهربانـه شـوم
وه ارمانه! ته دې په خپل حال اوسه
مينـه دلته نشـته، ډېر نادانه شـوم





## ورزش

عالمــه ګــوره هــر يــو کار د ورزش
حکمـت نه ډک دی کړئ روزګار د ورزش
خـدای قوي بنده خپل دوسـت ګڼی تل
چـې وي سـالم او طلبـګار د ورزش
هر ورزشـکار چې شي راستګار په کار کې
تاريـخ بـه شـي هلـه نامـدار د ورزش
چـــې د ورزش ســره اخـــلاق ولـــري
داسی مې خوښ دی هر يو يار د ورزش
چـې د وطـن پـه درد او غـم شـي خبر
ارمـان بـه نکـړي نـور انـکار د ورزش




## منفکان

چې اخلاق يې وو خراب، شولو منفک
تور مخ پټې په نقاب، شولو منفک
هغوی چې تل منافقت کولو
اوس خو دي خانه خراب، شولو منفک
په تذوير يې چې اسناد خپل راوړي
مونږه وکړلو حساب شولو منفک
چې لاسونه يې ارګ پورې اوړده وو
ټول له مخې وو بې اب، شولو منفک
بې ځايه تهمتونه چې يې وکړل
مونږه ټول کړل بې نقاب، شولو منفک
هر مفسد به تر ارګ پورې روان ؤ
مونږه ورکړلو ځواب، شولو منفک
په حيا او عزت د چا دوی نه دي
يو او بل ته بې ځواب، شولو منفک
هر فاسد سترګې مدام خو سرې نه وي
معين نشته ها جناب، شولو منفک
چې آزار او اذيت يې موږ ته وکړ
رب نازل کړ پرې عذاب، شولو منفک
د ارمان شجاعت ته مې سلام دی
هر ظالم ته دی عقاب، شولو منفک








## معين صيب

څومره ښکلی دې رفتار دی ای معين صيب
له نخرو دې ډک کردار دی ای معين صيب
له خپل ځانه دې دوستان، خپلوان راټول کړل
له بزنس مو ډک بازار دی ای معين صيب
مړ وجدان به مو تر مرګ ملامت نه کړي؟
چې په شپو دې مست بنډار دی ای معين صيب
د الله نه مو تور مخ شرمنده غواړم
چې دوکه فريب مو کار دی ای معين صيب
اصليت کې بهر مېشتی، يو ټامې يې
په خارج دی هم ديار دی ای معين صيب
د الله (ج) قهر نازل دی ځان ترې ساته
د ارمان صرف ګفتار دی ای معين

د ماليې وزارت د وخت واکمن مرستيال او هغه ته ورته د نورو فاسدو معينانو د ظلم او استبداد له امله مې دا شعر ليکلی.


## ګذران

سخت شولو ګذران دلته
ټول یوو په خپګان دلته
دلتـه مینـه نشـته دی
ټول شـلوو ګرېوان دلته
سـخته شـوه یاري نوره
ډېر شـوو په تاوان دلته
ټـول ځي د خارج پر لور
تش شـولو مېدان دلته
هغـو چـې بـه ظلـم کړ
اوس کـوي ارمـان دلته
مینـه د جانـان هېـواد
تـل دې وي تابـان دلته
مینـه، شـجاعت لـري
ځار لـه هر افغـان دلته
تـل دې وي افغـان آباد
ځـار ترینـه ارمـان دلته









## احساس

یـو زه یـم بل شـو احسـاس مـې دیوانه
پـه خود نه دي ټـول حواس مـې دیوانه
قـدر نشـته که هـر څومـره خـواري وکړم
خـړ پړ ګرځم شـول وسـواس مـې دیوانه

## سکون

نشـي مې ګـذران له تا
درد تـه یـې درمان زما
ته مې یې د زړه سکون
ته یې په رښتیا ژوندون

## نصیبونه

بند دي نصیبونه، دعاګانې مې ښې وکړلې
مینـه زما نشـوه، ژړاګانې مې ښـې وکړلې
بند په بند تړلی د حېوان غوندې ژوندون لرم
یم ستم ځپلی، ښېراګانې مې ښې وکړلي

## غمونه

ستا له لاسه یاره ډېر غمونه دي
پروت یم بېلتانه کې تکلیفونه دي
بند په بند ترلی یو حېوان غوندې
رحم پر ما نکړې ستمونه دي
دلته انصاف نشته، عدالت نشته
شپه او ورځ کړېږو ټول ویرونه دي
رحم، ترحم او محبت نشته
شته ډېر ظالمان خراب وختونه دي
ځوان زاړه مو ټول اوس له یوې مخې
درومي له هېواده سفرونه دي
څوک به شي په کار مو په داسخته ورځ
هر ځای ځان ځاني ده نفرتونه دي
چاته فریاد وکړمه انصاف غواړم
عدل دلته نشته وحشتونه دي
وه ارمانه! پام چې وارخطا نشې
ته صبر کوه په کې اجرونه دي





## حالات

حالات به بیا زموږ بهتر شي اشنا
زرغون به سیمه زموږ غر شي اشنا
که غلیم نوره لاس وهنه کوي
له دې به نور هم در په در شي اشنا
څوک چې زمونږ ښېرا ازار وهلي
له شرمه ټیټ به یې تل سر شي اشنا
څومره به نور هم لا زورېږو مونږه
کله اسان به مو سفر شي اشنا
وطن مو وران او کنډواله پاتې دی
کله بېرون به له خطر شي اشنا
باور مې نشي که به بیا دوی راشي
ښکلي له کوره که بهر شي اشنا
هغه چې هر وختې زموږ سره وو
چېرې به دېخوا برابر شي اشنا
ارمان خپه په زړه داغلی پاتې
که یې رڼا د ژوند سحر شي اشنا

## ژوند

هيڅ ښکلی ژوند مې په نصيب نه ؤ
ټولو دردو ته مې طبيب نه ؤ
چې هر يو غم ته مې ولاړ وای مدام
راسره کله هم حبيب نه ؤ

## جانان

هر څه مې قربان له تا
ځان هم دا جهان له تا
نشي بې له تا ژوندون
نه کيږي ګذران له تا

## درمان

درد لرم، درمان مې راته نه رسي
مينه هم، جانان مې راته نه رسي
سخته زندګي شوله، ناچاره يم
هيله او ارمان مې راته نه رسي





## زندګي

نوره ډېره ګرانه زندګي شوله
زياته هم زما په کې خواري شوله
زه به نو د کوم کومې حساب کوم
ستونزو پسې ستونزې مجبوري شوله

## پرهر

څنګه چې غورځي دا اوبه د ماهيپر له سره
داسې مې زړه نه وينې څاڅي د پرهر له سره
څنګه پتنګ چې سره لمبه شو د خپل يار لپاره
داسې مې زړه دی لمبه شوی د دلبر له سره

## ښکلي

زما څخه دې نشي هيڅ جدا ښکلي
تل دې راته اوسي په خندا ښکلي
مينه د اشنا دې تل مدام اوسي
څنګ کې مې دې وي راته تنها ښکلي

## مشوره

که زه دا کور او هم مې کلی پرېږدم
هم دغه خاوره، دا هېواد پرېږدم
زما په تګ به څه بدل شي اشنا؟
چېرې آباد به سمه او غر شي اشنا؟

***

زما په تګ که څه بدلون نه مومي
نور زه مجبور يمه دا ښار پرېږدم
له توره باز ديو نه فرار وکړم
له دې ديوانو لرې
تر بله ښاره لاړ شم
د ښاپېرو مالت ته

***

چېرته ډېر لرې د امن ځای ته
چېرته چې جنګ نه وي
د يو انسان پر بل قلنګ نه وي
د اخوت او ورورولی فضا وي
د هيڅ انسان د وينې ډنډ نه وي





هره خوا ډېره بدرنګه نه وي
د انسانيت او د قانون په اساس
يو انسان له بل نه تنګ نه وي

***

دلته نور قدر د تعليم نشته
دلته له پوهې خلک کار نه اخلي
دلته هر څه دي د ټاميانو په لاس
د قلم ځای دی تور ټوپک نيولی
دلته ځواب په سوک څپېړه ورکړئ
نو ځکه!!! خوله مو د ماتې پر ځای چوپه ښه ده

***

دلته دا ښار د اوسېدو نور نه دی
دلته پراته دي څو وحشي يرغلګر
په سپين سترګی تر دغه ښاره راغله
ځمکه او فضا يې خپله کړله
بهتره دا ده چې دا کلی پرېږدم
هر څه په رب المنان وسپارمه

## خاونده هېر به نشي

خاونده هېر به نشي
د خوشالۍ اختر
د نېکمرغۍ اختر
چې غم مو نلرلو
د آبادۍ اختر
چې به مو ذبحې کړلې
د قربانۍ اختر



***

خاونده هېر به نشي
د آزادۍ وختونه
د نېکمرغۍ وختونه
چې به مو ړوړ ټول اوسېدو
په خپل وطن کې ورونه





هر چا روزګار به کړلو
د خپله وسه پورې
د جنګ وختونه نه وو
دا فريادونه نه وو

***

خاونده هېر به نشي
هغه مهاجر ورونه مو
چې له وطنه تللي
چې دوي به کله راځي
ټول په زاربو يوو درته
د کبريا خاونده ....

## افغانستان

ښکلی دی جانان زما
ګل د ګلستان زما
نشي بې له تا ژوندون
ګران افغانستان زما
خاورې دې لعلونه دي
نوم دی په جهان زما
نوم لري، نشان لري
ستوري په اسمان زما
ښکلی یې، ښاغلی یې
کم دی دا بیان زما
دلته وحشتونه دي
ژاړي هر افغان زما
دلته خو نور نه کېږي
چم کې مې ګذران زما
خلک همېشه دلته
تل دي په فغان زما
څه یو عجیبه غوندې
زړه دی په لړزان زما
تل دې دا اباد اوسي
دا دی غټ ارمان زما





ستا له غمه

## ملګری

دا د زمرو ملګری
د توریالو ملګری
په هر مېدان دی ولاړ
د جنګیالو ملګری
د خو لسیزو څخه
دی د جګړو ملګری
تورو تیارو کې اوسي
د تورو شپو ملګری
د خو پېړیو څخه
د دښتو غرو ملګری
چې یې تاریخ را معلوم
د مېړنو ملګری
خوږ ولسمشر زموږ
ؤ د څو غلو ملګری

## اخېري خبره


اشنا ما ستا لپاره
ځان په انګار سېځلی
لکه پتنګ پشان مې
په ننګ او نام سېځلی

***

نو اشنا!
اخيري خبره کوه
که غمازان راته انګار انګار شي
او په هر چم راته اورونه بل شي
د چم ښکلي او ښايسته دوستان مو
پېرنګی چړې لاسو کې واخلې
نو اشنا داسې حال کې
ته به له ما سره دې
دا پښتنه مينه
ساتې او که نه؟؟؟




## په ايرو کې لعلونه



د ښاغلي ډاکټر ايمل ارمان پلرنی ټاټوبی د ننګرهار روداتو ولسوالي ده او نړۍ ته يې د هرات په شينډنډ ولسوالۍ کې سترګې غړولي دي، د اسلامي زده کړو سره سره په عصري زده کړو کې لوړې زده کړې لري.

ښاغلي ارمان نزدې له شلو کلونو را پدېخوا ګران هېواد کې په بېلابېلو ملي او نړېوالو ادارو کې په لوړو پوستونو دندې ترسره کړې دي، چې اوس‌مهال د کرنيزې پرمختيا صندوق د لوی رئيس په صفت دنده پر مخ وړي. ښاغلي ارمان د هېواد بزګرانو او کرنيزو متشبثينو ته د هېواد د کرنيز سکتور د ودې په موخه په سلګونو روزنيز، ښوونيز، علمي او عملي سيمينارونه وړاندې کړي دي او په همدې برخه کې يې په سلګونو علمي او تخصصي څېړنې ترسره کړي، چې پر بنسټ يې هېواد کې بېلبېلونه افغانۍ پانګونه شوې ده.

ښاغلی ارمان له کوچنيتوب راهيسې د کلتوري او فرهنګي چارو سره مينه او علاقه درلوده، چې ملي او نړېوالو (رڼا او علم په انګليسي ژبه خپرېدونکو مهالنېو خپرونو، ننګرهار، وحدت او شرق ورځپاڼو او داسې نورو...) چاپي خپرونو او رسنېو سره يې قلمي همکاري درلوده، همدارنګه د سالو مجلې مسؤل مدير پاتې شوی دی او اوس مهال د کرنيزې پرمختيا صندوق له لوري د (پرمختګ) مجلې د مديريت چارې پر غاړه وړي. ښاغلی ارمان زده کوونکی ؤ چې د شعر کاروان سره ملګری او د شاعرۍ د لارې لاروی شو چې لا تر اوسه د دې لارې مزل وهي، نوموړي تل د ښه شعر پنځونې په موخه د ښه او د ټولنې وګړو ته د منلي شعر د ليکنې هڅه کړې ده، نوموړي تر دې مهاله په سلګونو شعرونه او نظمونه ليکلي دي چې اسلامي، حماسي، عشقي او دې ته ورته شاعري يې د ښې بېلګې په توګه يادولی شو.

ښاغلی ارمان نه يواځې دا چې شعر ليکي، بلکې نثر او نور ليکلي علمي آثار يې هم خورا ښکلي او خواږه ليکلي دي، د دې له ډلې يې چاپ شوی علمي او تخصصي اثر د کب پالنې عملي لارښوود دی، چې د کب ساتنې او پالنې مينه والو ته له مخکې وړاندې شوی دی، ښاغلی ارمان پام کې لري چې د کتاب مينه والو ته د دې شعري ټولګې له چاپ وروسته درې نور علمي، مسلکي، تخصصي او په زړه پورې کتابونه وړاندې کړي. عمر يې اوږد او په قلم يې برکت شه!

## ناقرار قلم

کلونه کېږي ته د دې خاورې ماتم ته گوره
سر دې کړه پورته! لږ زما د زړگي غم ته گوره
آهونه خېژي د زړه سره هیڅ قرار نلرم
لوگي چې خېژي له هر چمه دې ستم ته گوره
د زړه بلبل مې مرور دی زوړ بوستان نه ښکاري
پرې نه رغېږي نن هماغه زوړ ملهم ته گوره
ښکلي وطن باندې روښانه د رڼا ډیوې وې
تیارې خورې دي، ته زموږ د کلي چم ته گوره
هسکه شمله مو د بابا وه څه وطن ؤ زموږ
اټک ویده دی ترینه هاخوا ته جهلم ته گوره
د وطن پیغلې مو په بل وطن کې خوارې گرځي
یتیم ژړېږي ناقرار زما قلم ته گوره
د غم سیلۍ پرې لگېدلې هیڅ ارام نلري
اوښکې بهیږي د "ارمان" د سترگو نم ته گوره

ډاکټر ایمل ارمان